# د بهرنیو چارو وزارت د تېر کال د کړنو راپور وړاندې کړ

په هغه خبري ناسته کې چې د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې جوړه شوې وه، د بهرنیو چارو وزارت مسئولینو د تېر کال د فعالیتونو راپور وړاندې کړ.

د دغه وزارت چارواکي وايي، د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د تعاملاتو او ډیپلوماتیکو اړیکو د کچې د پیاوړتیا، د صنعت سکتور پیاوړتیا او د کانونو په برخه کې د بهرنۍ پانګونې راجلبولو ته پاملرنه، د اقتصادي پروژو پلي کول، د بشري مرستو راجلبول، د نیمه بشپړو پروژو د پیل په پار د تمویل کوونکو سره همغږي او په نړیوالو پلیټ فارمونو کې د افغانستان د مهمو او کلیدي موضوعاتو په اړه بحث او خبرې اترې، د تیر کال له مهمو اجرااتو څخه دي.

چارواکي زیاتوي، په تېر یوه کال کې د سیمې په هېوادونو کې د افغانستان د سیاسي استازولیو د مدیریت په اړه اړین اقدامات ترسره شوي او هڅه شوي ترڅو له افغان دیپلوماتانو سره د منل شویو نورمونو او اصولو له مخې چلند وشي.

د چارواکو په وینا، د اسلامي امارت د اغېزناکه ډیپلوماسۍ په رڼا کې د بندیزونو د لیرې کولو او له تور لیست څخه د یو شمېر افغان چارواکو د نومونو د ایستلو په برخه کې د پام وړ پرمختګ شوی دی.

چارواکي وايي، د تېر کال په اوږدو کې لسګونه افغان ډیپلوماتان مالیزیا، ترکیې، پاکستان، ایران، اوزبیکستان، ترکمنستان، قزاقستان، روسیې، چین، دوحې او متحده عربي اماراتو ته ور وپېژندل شول او دغه ډیپلوماتان د یادو هېوادونو له خوا په رسمي ډول ومنل شول.

د چارواکو په وینا، د تېر کال په اوږدو کې د چین، روسیې، ترکیې، ایران، قزاقستان، قرغزستان، اوزبیکستان، ترکمنستان، پاکستان، متحده عربي اماراتو، قطر، مصر، اندونیزیا، مالیزیا، اروپایي ټولنې او د نړیوالو سازمانونو لوړ پوړو چارواکو افغانستان ته سفرونه کړي او د اسلامي امارت له لوړ پوړو چارواکو سره پر یو شمېر مهمو موضوعاتو دوه اړخیزې او څو اړخیزې ناستې کړې دي.

چارواکي زیاتوي، په تېر یوه کال کې د تعامل او همکارۍ د کچې د لوړولو په موخه د اسلامي امارت چارواکو ته ۴۶ سفرونه برابر شوي، د قطر، ترکیې، پاکستان او ایران په نړیوالو غونډو او کنفرانسونو کې د اسلامي امارت د چارواکو د ګډون زمینه برابره شوې او همدارنګه د نړۍ له هېوادونو او نړیوالو سازمانونو سره ۲۵ مهمې ناستې ترسره شوې دي.

د دغه وزارت د معلوماتو له مخې، د ګډو اقتصادي همکاریو د پیاوړتیا لپاره هڅې ترسره شوي، چې د اقتصادي او زیربنایي پروژو د پیل، لکه ټاپي پروژې، ټاپ، نورالجهاد سب سټیشن، اورګاډي پټلۍ؛ همدارنګه د سوداګرۍ او ترانزیتي اسانتیاوو په برخه کې د افغانستان، بیلاروس، روسیې، قزاقستان، ازبکستان، پاکستان، ایران او چین ګډې هڅې په دې برخه کې مهمې بیلګې دي.

چارواکي وايي، د کانونو په برخه کې د بهرنۍ پانګونې د جلبولو، کورنيو توليداتو ته د بازار موندنې په موخه په کابل، اوزبيکستان او ترکمنستان کې د ٦ نندارتونونو د جوړولو، له چين، متحده عربي اماراتو، پاکستان او اوزبيکستان څخه د ظرفيت لوړونې پروګرامونو لپاره د ١٦٨١ بورسونو ترلاسه کول، د روسيې، چين، اوزبيکستان، اذربايجان، قزاقستان، ماليزيا او قطر هېوادونو له خوا ١١٧۴ سکالرشيپونه او په هرات کې د وروستيو زلزلو ځپلو ته د اوزبيکستان، چين، ترکمنستان، قرغزستان، تاجکستان او اندونيزيا له هېوادونو څخه د بشري مرستو راجلبول، په تېر يوه کال کې د دې وزارت له مهمو کړنو څخه دي.

د دغه وزارت د معلوماتو له مخې، په تېر کال کې په ټوليز ډول ٢٨٣٢١٠ تذکرې او وثايق تصديق او صادر شوي، ۴١٩۵٩ بهرنيو اتباعو ته ويزې ورکړل شوي، ٩٧۵۵٦ پاسپورتونه وېشل شوي او ۴٢٦١۴١ پاسپورټونه تمديد شوي دي.

دغه راز د هېواد په ۵ هوايي ډګرونو، ٨بندرونو او ٧ ولايتونو کې د پاسپورټ خدمتونو د وړاندې کولو د سيستم رامنځته کول او فعالول او همدارنګه د برېښنايي تذکرو او يو شمېر نورو اسنادو د وېش په برخه کې د احصايې او معلوماتو له ملي ادارې سره د همکارۍ تفاهم ليک لاسليک شوی دی.

چارواکي زياتوي، تېر کال په مرکز او ولايتونو کې د ٢۵٠ کارکوونکو او ډيپلوماتانو لپاره د ظرفيت لوړونې پروګرامونه داير شوي او د دغه وزارت له ديپلوماسۍ انستيتوت څخه ٢٨۵ تنه فارغ شوي دي.#

# د کورنیو چارو وزارت د خپلو یو کلنو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ

د کورنیو چارو وزارت مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغه وزارت د یوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

د کورنیو چارو وزارت مسئولینو په یاد خبري کنفرانس کې وویل: اوسمهال د وزارت ټول فعالیتونه د ستراتېژیک پلان په اساس تنظیم او مدیریت کېږي. د عامه نظم او امنیت د ټینګښت په موخه، د عالیقدر امیر المؤمنین ( حفظه الله) فرمانونه، د محکمو پرېکړې او د وزارت د رهبرۍ لارښوونې، پر وخت تنفیذ او عملي کېږي.

د وزارت مسئولینو زیاته کړه، چې له څلور لسیزو وروسته افغانستان د لومړي ځل لپاره د سرتاسري امنیت شاهد دی، خلک په خوندي او ډاډمنه فضاء کې ژوند کوي، په ډاډه زړه او ارام ذهن له یوه ولایت څخه بل ولایت ته سفر کوي.

د امنیتي ځواکونو د دوامداره او نه ستړې کېدونکو هڅو په پایله کې د هېواد په سطحه، د جرمونو په کچه کې ۳۰ سلنه کموالی راغلی دی. لکه څنګه چې په وروستي یوه کال کې د اختطاف د ۳۸ پېښو په اړه خبر ورکړل شوی او امنیتي ځواکونو یې پر وړاندې ۲۵۰ عملیات تر سره کړي، چې په پایله کې یې ۷۶ تنه سړي تښتوونکي نیول شوي او ۳۴ تنه نور یې له امنیتي ځواکونو سره په نښتو کې وژل شوي دي.

د مسئولینو په وینا، تېر کال کې د ملي پولیسو د دوامداره او نه ستړې کېدونکو هڅو په پایله کې د هېواد په کچه، لوی مذهبي مراسم او ناستې او ملي او مناسبتي ورځې په بشپړ امنیت کې تر سره شوي، چې هېوادوالو په پوره ډاډ سره پکې ګډون کړی دی.

په همدې ډول، د اقتصادي او پراختیایي پروژو د امنیت ټینګښت، د پانګونې لپاره زمینه برابرول، د هېواد د سرحدي پولو ثبت او ارزونه، هېوادوالو ته د خدمتونو وړاندې کول او متوازن انکشاف، په تېر یوه کال کې د وزارت له عمده لاسته راوړنو څخه دي. د یادونې وړ ده، چې د وروستي یوه کال پر مهال ملي پولیسو د ۷۰ زېربنایي پروژو ساتنه کړې ده.

مسئولین زیاتوي، چې د امنیتي ځواکونو د مسلکي کېدو او پیاوړتیا برخه کې اساسي ګامونه اوچت شوي، د ملي پولیسو ښوونیز مرکزونه په ښه ډول تجهیز او ملي پولیس اوسمهال د شریرو عناصرو، د هر ډول شومو موخو او پلانونو د شنډولو وړتیا لري. دغه راز، په تېر کال کې ۴۵۰ تنه محصلین د لېسانس په کچه، د کمیسارۍ او داخل خدمت له پروګرامونو څخه فارغ شوي، د ۳۲۵ ښځو په ګډون، ۶۷۳ تنو د ظرفیت لوړونې پروګرامونو کې برخه اخیستې، ۲۴ زره

تنو اساسي، اختصاصي او ساتنمني زده کړې کړي او اوسمهال ۳۲ زره تنه په زده کړو بوخت دي. ۲۰۵۱۵ تنه د افسرۍ او ۱۵ زره او ۶۰ تنه د ساتنمنۍ په بستونو کې ګمارل شوي، همدارنګه ۳۵۵۸۴ سرتېري هم د امنيتي ځواکونو ليکو کې جذب شوي دي.

د وزارت مسئولينو د خپلو خبرو په دوام وويل، چې د عاليقدر امير المؤمنين (حفظه الله) د فرمان په صادرېدو سره، د نشه يي توکو د کښت، توليد، قاچاق او استعمال د مخنيوي په موخه، جدي اقدامات تر سره شوي، د هېواد په کچه د کوکنارو کښتونه له منځه وړل شوي، روږدي کسان تر درملنې لاندې نيول شوي او د يادې پديدې له عاملينو سره جدي او قانوني چلند شوی دی.

د کورنيو چارو وزارت چارواکو څرګنده کړه، چې په وروستي يوه کال کې ۳۶۴۳ تنه بېلابېل نشه يي توکي کشف او ترلاسه شوي، د نشه يي توکو، الکولي مشروباتو او نشه راوړونکو ټابلېټونو د توليد او پروسس ۷۹۰ کارخونې له منځه وړل شوي، ۱۰۵۶۴ شکمن کسان نيول شوي، ۲۷۸۹۱ روږدي کسان د درملنې مرکزونو ته معرفي شوي او ۱۷۶۵۱ هکتاره ځمکه د کوکنارو له کښت څخه پاکه شوې ده.

د وزارت د مسئولينو په خبره، په تېر کال کې د هېواد په هوايي ډګرونو کې د ۱ ميليون او ۹۵۰ زره ډالرو، ۸۴۵ زره يورو، ۴ ميليونه او ۸۳۰ زره سعودي ريالو او ۱۰۰ زره درهمو، له قاچاق څخه مخنيوی شوی دی. د دې ترڅنګ، ۳۴۴ کيلوګرامه نشه يي توکي او څه باندې يو کيلوګرام سره زر هم کشف او ترلاسه شوي دي او له دې پېښو سره په تړاو ۵۹۱ تنه هم نيول شوي دي.

همدار راز مسئولين زياتوي، چې د خدمتونو وړاندې کول لکه د پاسپورټونو او ترافيکي اسنادو وېش، د طبيعي پېښو قربانيانو ته رسېدنه، د جرمونو کموالی او د وسلو او وسايطو قانوني کول، د تېر کال په اوږدو کې د دغه وزارت له مهمو کړنو څخه دي.

د مسئولينو په وينا، وروستي يوه کال کې په ټوليز ډول ۱ ميليون او ۷۴۵ زره پاسپورټونه وېشل شوي. پر دې سربېره ۵۰۰ زره راسته اشترنګ موټر په سيستم کې ثبت شوي، چې له دې جملې څخه ۲۵۰ زره موټرو ته موقتي پلېټونه وېشل شوي او د موقتي پلېټونو د وېش لړۍ لا هم روانه ده.

د کورنيو چارو وزارت د معلوماتو پر بنسټ، تېر کال د اسلامي امارت د زعيم عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله) په مشرۍ د واليانو او لوړپوړو مسؤلينو په ګډون، د همغږۍ غونډه ترسره شوې، چې په کې د مرکزي او ولايتي ادارو ستونزې اورېدل شوي او د محلي حکومتولۍ د پياوړتيا، غوره خدمتونو وړاندې کولو او له خلکو سره د ښې همغږۍ د تامين په موخه، اړينې لارښوونې شوي دي.#

# د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د خپلو یو کلنو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغه وزارت د یوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مسئولینو په دې خبري کنفرانس کې وویل: په تېر یوه کال کې ۶۱۲۰۸۸ کونډو، یتیمانو او معلولینو ته په ټولیز ډول، ۱۵ میلیارده ۴۰۷ میلیونه ۳۸۲ زره او ۷۰۸ افغانۍ میاشتني مساعدتونه ورکړل شوي او د خیریه موسسو لخوا له ۸۹۴۴۲ کونډو، یتیمانو او معلولینو سره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرسته شوې ده.

د وزارت مسئولینو زیاته کړه، چې په وروستي یوه کال کې له ۶۷ خیریه موسسو سره، د همکارۍ تفاهم لیکونه لاسلیک او د ۴ میلیونه او ۵۰۰ زره امریکایي ډالرو په ارزښت، اړمنو او مستحقو کسانو ته اړین خدمتونه وړاندې شوي دي.

د یاد وزارت د مسئولینو په وینا، تر دې دمه ۶۵۳۲۶۵ تنه کونډې، یتیمان او معلولین تثبیت، چې له دې جملې څخه ۲۶۴۳۳۵ په سیستم کې درج شوي دي. دغه راز، په تېر کال کې د مستحقو کسانو د تثبیت په موخه، د تصفیې پروسه په لار اچول شوې وه، چې په پایله کې یې ۲۸۱۸۳ تنه کونډې، یتیمان او معلولین تر غیر مستحق پېژندل کېدو وروسته، له سیستم څخه حذف شوي دي.

د وزارت مسئولینو د خپلو خبرو په دوام وویل: په وروستي یوه کال کې ۹۹۰ تنه کونډې، یتیمان او معلولین د درملنې په موخه، روغتونونو او روغتیایي مرکزونو ته معرفي شوي او ۳۸۸۵ تنه نورو ته د مصنوعي غړو، فزیوتراپي، اورتوپیدي او روان درماني برخه کې اړین خدمتونه وړاندې شوي دي. همدارنګه ۱۲۰ تنه معلولینو او یتیمانو د کمپیوټر، برېښنایي وسایلو ترمیم او خیاطۍ برخه کې حرفوي زده کړې کړي او تر فراغت وروسته اړین تجهیزات په واک کې ورکړل شوي دي.

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د معلوماتو پر بنسټ، د کونډو، یتیمانو او معلولینو ثبتولو بهیر دوام، د نغدي او غیر نغدي مساعدتونو جلب او وېش، په میاشتني ډول د حقوقو ورکول، له خیریه موسسو سره د همکارۍ تفاهم لیکونو لاسلیکول، یتیمانو او معلولینو ته د حرفوي او مسلکي زده کړو ورکولو د پروګرام دوام، د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ د احکامو او فرامینو تحقق او د خدمتونو وړاندې کول؛ په روان کال کې د وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي. #

# د کډوالو چارو وزارت: په تېر کال کې څه باندې ۱ میلیون او ۷۹۹ زره کډوال هېواد ته راستانه شوي دي

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغه وزارت د یو کلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت مسئولینو په دې خبري کنفرانس کې وویل: د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د فرمان په اساس، د افغان کډوالو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسیون رامنځته شو، چې په تېر کال کې د یاد کمېسیون له لارې راستنو شویو کډوالو ته اړین خدمتونه وړاندې شوي دي.

د وزارت مسئولین زیاتوي: په تېر کال کې له ایران، پاکستان او نورو هېوادونو څخه، په ټولیز ډول ۱ میلیون او ۷۷۹ زره او ۶۰۳ تنه کډوال هېواد ته راستانه شوي دي. ۷۸۸ زره او ۸۲۱ داخلي بېځایه شویو او راستنو شویو کورنیو سره، نغدي او غیر نغدي مرستې شوي او ۹۶۲۹۳ راستنې شوې کورنۍ د هغوی اړوندو سیمو ته لېږدول شوي دي.

دغه راز، چارواکو د معلوماتو له مخې، په تېر کې د کډوالو چارو وزارت په هڅو، ۵۷۶۶ تنه افغان کډوال د ترکیې او پاکستان هېوادونو له زندانونو څخه، ازاد او هېواد ته رالېږدول شوي دي. دغه راز ۴ زره افغان کډوال چې په ایران کې د بېلابېلو جرمونو په تور نیول شوي وو، هېواد ته رالېږدول شوي دي. د دې تر څنګ، په ایران او پاکستان هېوادونو کې ۶۰۰ افغان کډوالو ته، د حج فریضې ادا کولو زمینه هم برابره شوې ده.

د وزارت د چارواکو په خبره، د کډوالو د دایمي مېشتېدنې په موخه، ۱۳ ښارګوټي تصفیه او اړینې اسانتیاوې پکې برابرې شوي دي. همدارنګه د راستنېدونکو او کډوالو ستونزو ته د رسېدنې په موخه، له ۹۳ همکارو موسسو، ۷ ادارو او ۱۴ ښوونیزو بنسټونو سره، د همکارۍ تفاهم لیکونه لاسلیک شوي دي.

د وزارت د معلوماتو پر بنسټ، د کډوالو او راستنېدونکو ستونزو ته رسېدنه، په داوطلبانه ډول هېواد ته د افغان کډوالو د راستنېدو زمینه برابرول، د ظرفیت لوړونې پروګرامونه په لار اچول، د کډوالو ښارګوټو کې د اړینو اسانتیاوو برابرول او د کډوالو حقوقي ستونزو ته رسېدنه، په روان کې د دغه وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي.#

# لوړو زده کړو وزارت د خپلو یو کلنو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ

د لوړو زده کړو وزارت مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغه وزارت د یوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

د لوړو زده کړو وزارت مسئولینو په دې خبري کنفرانس کې وویل: په دولتي پوهنتونونو کې د دوکتورا د ۱۱ او ماسترۍ د ۱٦ پروګرامونو او ۱۳ نویو پوهنځیو او په خصوصي پوهنتونونو کې د ماسترۍ د ۱۰ پروګرامونو رامنځته کول، په تېر یوه کال کې د وزارت له مهمو لاسته راوړنو څخه دي.

د وزارت مسئولینو زیاته کړه، چې د دیني او ملي ارزښتونو او نړیوالو معیارونو سره سم، ۱۳۱ تحصیلي نصابونه اصلاح او د منظورۍ په موخه ذیصلاح مراجعو ته استول شوي دي. په یادو نصابونو کې ۸۹ د لېسانس، ۳۵ د ماسترۍ او ۷ د دوکتورا سویې نصابونه شامل دي. دغه راز، د هېواد د تحصیلي سکتور پیاوړتیا په موخه، ٦۴۰ علمي کادرونه د ازادې سیالۍ له لارې جذب او ۱۳۱۷ کارکوونکي په اداري، مسلکي او تخصصي بستونو کې په دندو ګمارل شوي دي.

د مسئولینو په وینا، اوسمهال د هېواد په پوهنتونونو کې ۱۸۹ زره او ۹۹۱ تنه محصلین په زده کړو بوخت دي او تېر کال کې ۵۱ زره او ۹۵۰ تنه محصلین فارغ شوي دي. همدارنګه، ۲۲۱۲ تنه محصلین چې له هېواد څخه بهر په لوړو زده کړو بوخت وو، بېرته افغانستان ته راستانه او اسناد یې هم ارزول شوي دي.

مسئولین زیاتوي، چې په تېر کال کې د اسنادو د معادلت او ارزونې په موخه، په ټولیز ډول له ۴۰ زره علماء کرامو څخه ازموینه اخیستل شوې ده. همداراز، محصلینو ته د عملي زده کړو، په امارتي ادارو کې د فارغ شویو محصلینو د جذب او د کارکوونکو د مسلکي وړتیا لوړولو په موخه، له سکتوري وزارتونو سره د همکارۍ تفاهم لیکونه، لاسلیک شوي دي.

د لوړو زده کړو وزارت د معلوماتو پر بنسټ، په تېر کال کې د ۹ ساختماني پروژو، چې لابراتوارونه، څېړنیز فارمونه، کتابتونونه، کمپیوټر لبونه او درسي ټولګي پکې شامل دي، چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوي. همدارنګه په مرکز او ولایتونو کې د ٦ ترمیماتي پروژو چارې هم دوام لري. #

# د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د خپلو يو کلنو فعاليتونو او لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت مسئولينو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز کې د امارتي ادارو د يو کلنو لاسته راوړنو د تشريح پروګرام کې د يوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغه وزارت د يوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنيو سره، شريک کړ.

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت مسئولينو په ياد خبري کنفرانس کې وويل: په تېر کال کې د هېواد له هوايي ډګرونو څخه د ۱۲۵۰۳ الوتنو په ترڅ کې ۱ ميليون ۸۹۷ زره او ۲۷۳ مسافر لېږدول شوي، چې له دې جملې ۷۷۴۷۰۰ تنو د هېواد په داخل کې او ۱ ميليون ۱۲۲ زره او ۵۸۳ تنو له هېواد څخه بهر سفر کړی دی.

د ټرانسپورټ وزارت مسئولينو زياته کړه، په تېر کال کې ۵۴۷۰۳۸ باروړونکو وسايطو له افغانستان څخه، اوزبيکستان، ترکمنستان، تاجيکستان، ايران او پاکستان هېوادونو او ۴۳۴۷۰۹ نورو وسايطو د سيمې او ګاونډيو هېوادونو څخه افغانستان ته، تګ او راتګ کړی دی. همدا راز ۴۱۳۷۰ وسايط د ټرانسپورټي بندرونو له لارې هم تللي او راغلي دي.

همدارنګه، په وروستي يوه کال کې ۴۲۱۸۹۵ باروړونکو او ۳ ميليونه ۷۲۲ زره او ۲۸۳ مسافر وړونکو وسايطو د هېواد د ولايتونو ترمنځ تګ او راتګ کړی او د هېواد له هوايي حريم څخه، په ټوليز ډول ۴۰۰۱۶ عبوري پروازونه تر سره شوي، چې د مخکيني کال په پرتله پام وړ زياتوالی په ډاګه کوي.

مسئولينو د خپلو خبرو په دوام وويل، چې په تېر کال کې ۳۰ زره حاجيان په خوندي ډول، د حج فريضې ادا کولو په موخه، سعودي عربستان او له هغه ځايه بيرته افغانستان ته لېږدول شوي دي.

د وزارت د چارواکو په خبره، په نړيوال هوايي ډګر د خوست د هوايي ډګر بدلول او د اريانا افغان او کام اير هوايي شرکتونو ترڅنګ، د اتو نړيوالو شرکتونو الوتنو ته د خدمتونو وړاندې کول؛ په وروستي يوه کال کې د وزارت له نورو فعاليتونو څخه دي.

همداراز، په تېر کال کې د هوايي چلند برخه کې ۱۸ پروژې تطبيق شوي، د ملکي هوايي چلند له انسټيټيوټ څخه ۱۱۲ تنه فارغ او ۱۵۰ تنه نوي محصلين جذب شوي او شاوخوا ۵۰۰ تنه د وزارت په خالي بستونو کې پر دندو ګمارل شوي او د هېواد په هوايي ډګرونو کې د مسلکي کسانو لخوا د معياري خدمتونو وړاندې کولو په موخه، د کار کوونکو د وړتياوو لوړولو لپاره، ٦٦ روزنيز پروګرامونه هم جوړ شوي دي.

مسئولین زیاتوي، چې له سپین بولدک، تورخم او کابل څخه، لسګونه زره راستانه شوي کډوال، خپلو سیمو او مېنو ته په وړیا او خوندي ډول لېږدول شوي دي. همدارنګه، په کابل ولایت کې د معیاري ټرانسپورټي ترمینلونو جوړولو په موخه، څه باندې درې نیم زره جریبه ځمکه، د کور او ښار جوړولو وزارت له لورې، د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت ته انتقال شوې ده.#

# د ملي دفاع وزارت د خپلو يو کلنو فعاليتونو او لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ

د ملي دفاع وزارت مسئولينو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز کې د امارتي ادارو د يو کلنو لاسته راوړنو د تشريح پروګرام کې د يوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغه وزارت د يوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنيو سره، شريک کړ.

ملي دفاع وزارت مسئولينو په دې خبري کنفرانس کې وويل: له ارزښتونو او حاکميت څخه ساتنه، د امنيت ټينګښت او د قانون له تنفيذ څخه ملاتړ، له داخلي بنسټونو او نورو وزارتونو سره همکاري، بېړنيو حالتو کې له خلکو سره مرسته، له امنيتي او دفاعي ارګانونو سره همغږي او همکاري د ملي دفاع وزارت له اساسي دندو او لومړيتوبونو څخه دي.

مسئولين زياتوي، چې په تېر کال کې د افغانستان د ملي اسلامي اردو د قطعاتو او جزوتامونو لخوا ۸۱۳۳۵۲ اوپراسيوني فعاليتونه تر شوي، چې په ترڅ کې يې ۵۸۸ ميله سپکې او ۶۰ ميله درنې وسلې، ۱۵۱۵ کيوګرامه چاودېدونکي توکي، ۲۳۹ لاسي بمونه او زياته اندازه مهمات، ۴۴ مخابرې، ۴۰ دوربينونه، ۳۸۶ وسايط او ۱۹۸۲ موټرسايکلونه کشف او ضبط شوي او ۱۳۸۳ کړۍ ماينونه شنډ شوي دي.

د وزارت مسئولينو د خپلو خبرو په دوام وويل، چې د هېواد له سرحدونو د ساتنې او د امنيتي ډېښو د مخنيوي په موخه، په اړينو ځايونو کې ګڼ شمېر کنډکونه، ببزونه او امنيتي پوستې جوړې شوي دي.

همدارنګه، د هوايي ځواکونو د عمومي قوماندانۍ الوتکو او چورلکو لخوا د ۴۲۱۸ وظيفوي او تعليمي پروازونه تر سره کېدل، د يوې بلک هاګ چورلکې رغول، د هوايي پوهنتون او هوايي مدافعې فعالول او روغتيايي مرکزونو ته د طبيعي پېښو د ۷۷ شهيدانو او ۵۶۷ ټپيانو لېږدول؛ په تېر کال کې د هوايي ځواکونو برخه کې د وزارت له لاسته راوړنو څخه دي.

د وزارت د چارواکو په خبره، د حضرت معاذ بن جبل (رض) ملي نظامي اکاډمۍ اول صنف ته، د دولسم ټولګي د ۵۰۰ فارغانو ور پېژندل، په هوايي پوهنتون او هوايي مدافعې کې د دولسم ټولګي د ۱۲۰ فارغانو جذبول، د حضرت نعمان بن ثابت (رض) په ملي نظامي اکاډمۍ کې د ۳۹۰ تنو جذبول، د حضرت عبيده بن جراح (رض) د ملي دفاع پوهنتون څخه د ۵۴۱۴ تنو او د تهدابي زده کړو له کورسونو څخه د قطعاتو او جزوتامونو د ۱۲۷۸۱ منسوبينو او د نظامي طب له بېلابېلو څانګو څخه د ۷۳ تنه محصلينو فراغت؛ په تېر کال کې د وزارت له مهمو فعاليتونو څخه دي.

د وزارت مسئولينو وويل: د تېر کال پر مهال، مالي، اداري او تدارکاتي سيستمونو کې د اصلاحاتو او منظمو پلټنو په پايله کې په ټولو پروسو کې بشپړ شفافيت رامنځته شوی دی.

مسئولین زیاتوي، لکه څنگه چې تر فتحې وروسته، په ټول هېواد کې بشپړ امنیت ټینگ شوی، په همدې اساس محاربوي فعالیتونه کم او د ملکي تلفاتو گراف هم صفر ته رسېدلی دی.

په همدې ډول، د ٦ اساسي سندونو بیاکتنه او د طی مراحلو لپاره عدلیې وزارت ته استول او همدارنگه د وزارت د اړوند جوړښتونو او فعالیتونو د تنظیم په موخه، د ۵۴ پالېسیو او کړنلارو بیاکتنه؛ د پالېسی جوړونې په برخه کې په تېر کال کې د وزارت له فعالیتونو څخه دي.

د مسئولینو د معلوماتو له مخې، د جنگي تخنیکونو، پوځي تجهیزاتو او وسلو اکمال، د هېواد په اوو امنیتي زونونو کې د عملیاتو تر سره کول، د ملي اسلامي اردو د ظرفیتونو لوړول، د ملي اسلامي اردو د کشفي ظرفیتونو لوړول او ډاډمن کول، د هېواد له دفاعي او امنیتي ادارو سره همغږي، د تقنیني اسنادو بیا کتنه، د جوړښتونو اصلاح، د تاسیساتو جوړول او د لوژستیکي، روغتیایي او تدارکاتي اسانتیاوو برابرول؛ په روان کال کې د دغه وزارت له لومړیتوبونو څخه دي.#

# د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د خپلو یو کلنو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغه وزارت د یوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

د کرنې وزارت، د کرنې او مالدارۍ سکتور د میکانیزه کولو، د طبیعي سرچینو د ساتنې او پراختیا، له سربند نه تر کرنیزې ځمکې د اوبو مدیریت او د هېواد د ځمکو چارو د تنظیم برخه کې ښې لاسته راوړنې لرو.

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت مسئولینو په یاد خبري کنفرانس کې وویل: د کرنې او مالدارۍ سکتور د ملاتړ په موخه، بزګرو، مال لرونکو او خصوصي سکتور ته، د وزارت د کرنې پراختیا له صندوق څخه، ۱،۳ ملیارده افغانۍ ورکړه، ۶۶۰ زره بزګرو ته، د ۳۳ زره متریک ټنه اصلاح شوي تخمونو او ۵۴ زره متریک ټنه کیمیاوي سره وېش؛ په تېر کال کې د وزارت له مهمو فعالیتونو څخه دي.

د کرنې وزارت په تېر یوه کال کې له همکارو ادارو سره په همغږۍ د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ برخه کې د ۳۰۰ میلیونه ډالرو په ټولیز ارزښت، ۲۷۱ پروژې تطبیق کړي دي. دغه راز، په میدان وردګ، کابل او لغمان ولایتونو کې د ۱۱۹۰ متریک ټنه په ظرفیت، ۵ سړخونې او په بېلابېلو ولایتونو کې د مېوو وچولو په موخه، ۱۱ سلفر خونې جوړې شوي، د کرنې د نویو طریقو د ترویج په موخه، د نباتاتو ۱۵۰۰ نمایشي قطعې جوړې شوي او ۸۰ زره هکټاره ځمکه له وبایي افتونو څخه خوندي شوې ده.

مسئولین زیاتوي، د کرنې او مالدارۍ سکتور د ودې او محصولاتو ته د بازار موندنې په موخه، د تېر یوه کال د پسرلي او منې په موسمونو کې لوی کرنیز نندارتونونه جوړ شوي او په ۱۱ ولایتونو کې د ۵۰ میلیونه افغانیو په ارزښت، د اوبو لګولو پروژو چارې روانې دي، چې په بشپړېدو سره به یې ۶۷۸۰ هکټاره ځمکه خړوبه شي. دغه راز، په ۱۰ ولایتونو کې د ځمکلاندې اوبو د تقویت په موخه، د ۱۳۸ چکډېمونو جوړولو چارې جریان لري، چې په نږدې راتلونکي کې به بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د کرنې وزارت د چارواکو په وینا، د شېدو ورکونکو غواګانو د اصلاح شوي نسل د ترویج په موخه د ۳۰۰ زره غواګانو مصنوعي القاح، په مختلفو ولایتونو کې څه باندې ۱۶ میلیونه حیواناتو ته د واکسین تطبیق او د څه باندې ۹ میلیونه حیواناتو درملنه، په ۳۴ ولایتونو کې د لبنیاتو محصولاتو د راټولولو او پروسس وسایلو وېش، د کورنیو د اقتصاد پیاوړتیا لپاره د چرګانو، غواګانو او وزو د کوچنیو فارمونو جوړول، په ۳۴ ولایتونو کې ۲۷۲ نویو حیواني کلینیکونو ته د جوازونه

ورکول او ۲۱۵۱ نورو کلینیکونو د جوازونو تمدید، همدارنګه له ۱۵۰۰ څخه ۳۵۰۰ته د چرګانو فارمونو د شمېر لوړول، په مالدارئ سکتور کې د دې وزارت مهمې لاسته راوړنې دي.

مسئولینو د خپلو خبرو په دوام وویل: په ۳۴ ولایتونو کې ۱،۷ میلیونه هکتاره ځنګلونه او ۳۰ میلیونه هکتاره څرځایونه خوندي او ساتل شوي او د ځنګلونو د احیا لپاره ۱۲۵۲۰۰ نیالګي کېښودل شوي دي.

په همدې ډول، په تېر یوه کال کې څه باندې ٦۹۰ زره مېوه لرونکي او بې مېوې نیالګي وېشل شوي او په تېرو درې کلونو کې په ټول هېواد کې د نیالګیو کېښودلو کمپاینونو له لارې ټولټال ۸۲ میلیونه نیالګي کېښودل شوي دي.

د کرنې وزارت مسئولین زیاتوي، چې د ځمکو بانک کې د ۱،۷ میلیونه جریبه را ګرځول شوې امارتي ځمکې ثبتول، د کرنیزو، صنعتي او تجارتي فعالیتونو په موخه، د ۱۴۳۱۲ جریبه ځمکې په اجاره ورکول، په ۳۴ ولایتونو کې د ۱ جریب امارتي ځمکي او څرځایونو سروې، او د خوست، پکتیکا، زابل، غزني، بامیان ولایتونو او جاغوري ولسوالئ کې د هوایي ډګرونو د مساحت تثبیتول؛ د دې وزارت له نورو مهمو لاسته راوړنو څخه دي.

د مسئولینو د معلوماتو له مخې، د توري بند، خروار بند، قوشتېپې کانال، مس عینک، د امو دریا نفتي حوزې او نورو ټولګټیو پروژو د پلي کولو په موخه، یو زر او ۱۳۳ جریبه شخصي او ۹۸ زره او ۵۴۲ جریبه امارتي ځمکې سروې او تصفیه شوي دي. همدارنګه، د خواف – هرات اوسپنې پټلۍ، په هرات، جوزجان، لغمان، بغلان، غزني او فاریاب ولایتونو کې د کاسا ۱۰۰۰ د ۲۲۰ کیلوولټ او ۵۰۰ کیلوولټ برېښنا لین انتقال او د کابل – لوګر سړک د دویم لین په څېر د ټولګټیو پروژو د مالکیت حق تثبیت، ارزونې او استملاک چارو تر سره کول؛ د وزارت نور مهم فعالیتونه دي.

په تېر یوه کال کې د وزارت پنځه کلنه ستراتېژي چمتو شوې او په بېلابېلو برخو کې د کاري طرزالعملونو په ګډون تقنیني سندونه هم نهایي شوي دي.#

# د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت د خپلو يو کلنو فعاليتونو او لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ

د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت مسئولينو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز کې د امارتي ادارو د يو کلنو لاسته راوړنو د تشريح پروګرام کې د يوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغه وزارت د يوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنيو سره، شريک کړ.

د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت مسئولينو په ياد خبري کنفرانس کې وويل: په تېر کال کې ۳۴ ولسي، ۳ فوق العاده او ۱۶ ولايتي غونډې جوړې شوي دي. دغه راز ۷۰۰ سيمه ييزې ستونزې تر پېژندنې وروسته له اړوندو مراجعو سره شريکې او يادو ستونزو ته د رسېدنې په موخه د مسئولينو لخوا ۴۰۰ پروژې منظور شوي دي.

مسئولينو زياته کړه، د زابل او پنجشېر ولايتونو د يو شمېر ولسواليو د سړکونو جوړولو چارو بشپړېدل، د کاپيسا، ميدان وردګو او لوګر ولايتونو اوسېدونکو د برېښنا ستونزو د حل په موخه د اړينو تدابيرو نيول او د بدخشان ولايت په پامير ولسوالۍ کې د مخابراتي شبکو فعالول؛ د سيمه ييزو ستونزو د حل برخه کې د وزارت له مهمو لاسته راوړنو څخه دي.

مسئولينو د خپلو خبرو په دوام ووېل: په هېواد کې د اسلامي امارت په بيا حاکمېدو سره، د قومي شخړو کچه را ټيټه شوې  او دغه وزارت په تېر يو کال کې د ۳۰۴ غونډو او ۵۲۵ ناستو په جوړولو سره د قومونو او خلکو ترمنځ شخړې او دښمنۍ په بشپړ ډول حل کړي دي.

په همدې ډول، د هرات ولايت په رباط سنګي ولسوالۍ کې د اڅکزيو، طاهري او نورو قومونو تر منځ د ۵۰ کلنې، د بادغيس په اب کمري ولسوالۍ کې د ۲۰ کلنې، په غزني ولايت کې د هزاره او کوچيانو د ۲۴ کلنې او د پنجشير ولايت په ابشار ولسوالۍ کې د ۴۰ کلنې شخړې حل؛ په تير کال کې د دغه وزارت له مهمو فعاليتونو څخه دي.

مسئولينو زياتوي، چې د هېواد د سرحدونو او پولو ساتنه، د وزارت له مهمو لومړيتوبونو څخه ده او په تېر يوه کال کې په دې برخه کې جدي او پرله پسې هڅې شوي دي. همدارنګه، د بندرونو رياست د وزارت په تشکيلاتي جوړښت کې اضافه شوی او دغه رياست د ننګرهار، خوست، پکتيا، پکتيکا، زابل، کندهار، هرات، فراه، نيمروز، کندز، تخار، فارياب او بلخ په بندرونو کې ناروغانو، مهاجرينو او مسافرينو ته د لازمو اسانتياوو برابرولو په موخه، د هېواد له سرحدي ارګانونو سره اړينه همغږي کړې ده.

د مسئولينو په وينا، د تېر کال پر مهال د فرهنګ، وګړو، مساحت، پوهنې، اقتصاد، پراختيا، کرنې او مالدارۍ په برخه کې څو اړخيزې څېړنې تر سره شوي، چې په پايله کې يې له بادغيس، غزني، پکتيا او فراه ولايتونو څخه هر اړخيز معلومات راټول او د سرحدي ولسواليو نقشه هم چمتو شوې ده.

مسئولینو څرګنده کړه، چې اوسمهال د دغه وزارت په اړوند لېسو کې ۷۱۰۴ تنه په زده کړو بوخت دي، په تېر کال کې ۶۹۹ زده کوونکي فارغ شوي او ۱۶۳۲ نوي زده کوونکي جذب شوي دي. دغه راز د بدخشان په فیض اباد کې د پامیري زده کوونکو لپاره د پامیر په نوم یوه نوې لېسه جوړه شوې، چې د استادانو او کارکوونکو د استخدام پروسه یې روانه ده.

په تېر کال کې د ریاست الوزراء عالي مقام د لارښوونې له مخې، په بادغیس، فاریاب، جوزجان، بلخ، تخار، بغلان، بدخشان، ننګرهار، کندهار، هلمند، پکتیکا، ارزګان، بامیان، کونړ او میدان وردګ ولایتونو کې د کوچیانو له زیانمنو کورنیو سره نغدي او غیرې نغدي مرستې شوي دي.

مسئولین وایي، چې د هېواد په کچه د کوچیانو د درملنې لپاره ۱۰۰ ګرځنده او ۱۱ ثابت کلینیکونه او د هغوی د څارویو د درملنې په موخه ۶۰ حیواني کلینیکونه فعالیت کوي، د کوچیانو د مالدارۍ او اقتصادي ودې لپاره، روزنیز پروګرامونه جوړ شوي او په بېلابېلو ولایتونو کې د څړځاینونو ۴۰ مورده ستونزې له اړونده مراجعو سره شریکې شوي دي.

د مسئولینو د معلوماتو پر بنسټ، د وزارت اړوند، ۱۱ ښوونیزو مرکزونو د لیلیې چارو تنظیم په موخه د لایحې، د کوچیانو چارو د سمون، اسکان او څړځایونو د کړنلارې، د ټکنالوژي ریاست ته د ډیټا د امنیت پالېسۍ تخنیکي اسنادو او د قومي شخړو د حل کړنلارې د مسودې چمتو کول او د الکترونیکي کتابتون فعالول؛ په تیر کال کې د دغه وزارت له نورو فعالیتونو څخه دي.

# د ښار جوړولو وزارت: د ښاري پراختیا ۵۷ پلانونه منظور او له ۴۴۳ ساختماني پروژو څخه څارنه شوې

د کور او ښار جوړولو وزارت مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یاد وزارت د یو کلنو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

د ښار جوړولو وزارت مسئولینو وویل: د ولایتونو د مرکزونو او ولسوالیو لپاره د ښاري پراختیا د ۵۷ پلانونو منظورېدل، په کابل کې د قطر استوګنیز ښارګوټي د اول فاز د چارو بشپړېدل، د ۳۱۸۱ ښاري سرغړونو تثبیت او پېژندنه، له ۴۴۳ ساختماني پروژو څخه څارنه، د کډوالو ښارګوټو جوړولو لپاره د ځمکې ورکولو برخه کې د تدابیرو نیول او د کابل د نوي ښار د درېیم فاز د تفصیلي پلان منظورېدل؛ په وروستي یوه کال کې د دغه وزارت له عمده لاسته راوړنو څخه دي.

د وزارت مسئولینو زیاته کړه، د کابل ښار په دار الامان ساحه کې د نیله باغ ښارګوټي د جوړولو چارو کې ۲۵ سلنه پرمختګ شوی، چې پاتې چارې به یې په ۳۸ میاشتو کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته به وسپارل شي.

د ښار جوړولو وزارت مسئولینو د معلوماتو له مخې، د تېر کال پر مهال کندهار کې یو استوګنیز ښارګوټی ګټې اخیستنې ته سپارل شوی، په هلمند ولایت کې د ۵۰۰ کورنیو لپاره د یوه استوګنیز ښارګوټي د جوړولو چارې دوام لري او په ننګرهار ولایت کې د ۲۰ زره کورنیو لپاره د مسکن سروې تر سره شوې ده.

د مسئولینو په وینا، کابل ښار کې د ترافیکي ګڼې ګوڼې کمولو په موخه، په څلورو برخو چهار اسیاب او خاکجبار ولسوالیو، استالف او ارغندی کې د بار وړونکو موټرو لپاره د ترمینل جوړولو لپاره، ترانسپورت وزارت ته د ځمکې په انتقال، پلان، طرحې او ساختماني ډیزاین کار جریان لري.

مسؤلین زیاتوي، د هېواد په کچه د ښاري سرغړونو ۳۱۸۱ موارد تثبیت او پېژندل شوي او د مخنیوي په موخه یې عملي کار پیل شوی دی. په نوي کابل ښار کې د جوړونې چارې دوام لري، د خصوصي سکتور او شرکتونو د فعالیت لپاره مناسب فرصت رامنځته شوی دی او په دې ښار کې د معیاري طبي کمپلکس د جوړولو پر طرحې او ډیزاین هم کار روان دی.

د وزارت د مسئولینو د معلوماتو پر بنسټ، د ۱۳ ښارګوټو لپاره د تفصیلي پلانونو منظورېدل، د نورستان، سرپل او کندوز ولایتونو لپاره، د سیمه ییزې پراختیا پلانونو چمتو کول، د ټولګټو پروژو د تطبیق لپاره د ۳۱۵ ساحو کروکي تر سره کول، د هرات ښار د ۱۵ ناحیو او ۱۶۳ ساختماني نقشو لپاره د اصلاحي پلانونو ترتیب او ویزه کول، د ۲۴۹ مهندسي نقشو طرحه او ډیزان او د ۹۹ پروژو د تخمین تر سره کول؛ په تېر یوه کال کې د وزارت له نورو لاسته راوړنو څخه دي.

د ښار جوړولو وزارت مسئولینو د معلوماتو له مخې، د عالیقدر امیر المؤمنین (حفظه الله) د حکم پر بنسټ، د ولسوالیو لپاره د تفصیلي پلانونو جوړول، په ۱٦ ولایتونو کې د ښارګوټو جوړولو لپاره د توپوګرافي سروې کول، په ۱۰ ولایتونو کې د تفصیلي پلانونو عملي کول او د ۷ زونونو او ۱٦ ولایتونو لپاره د تفصیلي پلانونو چمتو کول، په کابل او ولایتونو کې د استوګنیزو ساحو لپاره تفصیلي پلانونو جوړول، د ملي جامع پلان د مسودې تدوین، د ٦ ولایتونو د مرکزونو لپاره د اصلاحي پلانونو چمتو کول او د پروان او فاریاب ولایتونو په مرکزونو کې د اصلاحي پلانونو تطبیق؛ په روان کال کې د وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي.

# د عامې روغتیا وزارت د خپلو یو کلنو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ

د عامې روغتیا وزارت مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغه وزارت د یوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

د عامې روغتیا وزارت مسئولینو په دې خبري کنفرانس کې، د پنځه کلن پلان چمتو کول، لابراتوارونو او تشخصیه کلینیکونو ته د اعتبار ورکولو مسودې چمتو کول او د تقنیني اسنادو درجه بندي ، ۳۴۸۹ روغتیایي کار کوونکو ته د فعالیت جوازونه ورکول، په ۳۴ ولایتونو کې بندیانو ته د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول، له داخلي تولیداتو څخه د ملاتړ په موخه، د ۱۰۵٦ قلمه مختلف النوعه درملو تایید، د ۱۵۰٦ نویو ډاکټرانو ثبتول او د طبي سرغړونو او شکایتونو ۱۴ قضیو ته رسېدنه؛ په تېر کال کې د روغتیا وزارت د عمده فعالیتونو په توګه یاد کړل.

د وزارت مسئولینو زیاته کړه، چې په ټولو خصوصي انستیټیوټونو کې د درسي نصاب معیاري کول، درې کلونو ته د قابلګۍ د دوه کلنې دورې لوړول، د طبي علومو په خصوصي انستیټوټونو کې د ۲۷٦۴۲ تنه محصلینو شاملول، د روغتیا برخه کې ٦۲۰۳۱ تنو ته د تربیتي پروګرام جوړول او د طبي علومو له انستیټیوټونو څخه د ۱٦۰۸ تنه محصلینو فراغت؛ په تېر یوه کال کې د وزارت له نورو فعالیتونو څخه دي.

د مسئولینو په وینا، په تېر کال کې د هیواد په کچه، د ۴۲۱۲ روغتیایي مرکزونو له لارې، ۸۷۹۸۷۱۰ سراپا، ۱۹۸٦٦۵۰ داخل بستر، ٦۵۳۰۰ هیمودیالیز او ۳۱٦۱۴ سرطاني ناروغیو د درملنې خدمتونه وړاندې شوي دي. دغه راز د ۲۳٦۹۲ روږدو کسانو درملنه شوې او په هېواد کې د وروستیو زلزلو له امله ۲۲ زره زیانمنو ته هم روغتیایي او روان درماني خدمتونه وړاندې شوي دي.

همدارنګه، ماشومانو ته د څه باندې ۸,۸ میلیونه ویټامین A کپسولو وېش، ماشومانو او زلمیو ته د ۱۵۵۷۳۴۴ فولیک اسید او اوسپنې ټابلېټو وېش، ماشومانو ته د ۱۸٦۱۲۲۱ مغذي پوډرو(MNP) وېش، په ۱۴ ولایتونو کې ۲۷۰۳۸ تنه راستنو شویو ته د واکسین تطبیق او درملنه، ۲۵۸۱۷۰ تنه کوچیانو ته د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول او ٦۸۳۱ معلولینو ته د فزیکي تجهیزاتو برابرول؛ په تېر یوه کال کې د وزارت له نورو مهمو فعالیتونو څخه دي.

د وزارت مسئولینو د خپلو خبرو په دوام وویل، چې په تېر کال کې د واکسین د تطبیق کچه له ٦۵ څخه ۸۰ سلنې ته لوړه شوې او په ټولیز ډول ۸۵۹۹۷۰ مېندو او ماشومانو ته واکسین تطبیق شوی دی.

د مسئولینو د معلوماتو له مخې، په تېر کال کې ۲۵۳۰۲ قلمه درملو او روغتیایي محصولاتو د واردېدو اجازه ترلاسه کړې، له کورنیو تولیداتو څخه ۲۳۱۶ قلمه درمل بازار ته وړاندې شوي، د درملو د تولید ۱۵ فابریکو، د درملو د تورید ۱۵۱ شرکتونو او ۱۷۹ عمده پلورنځیو او ۲۴۶۸ فارمسستیانو ته د فعالیت جوازونه ورکړل شوي دي.

همداراز، افغانستان د سیرومو د تولید برخه کې خودکفا شوی او په تېر کال کې یې په زیاته اندازه سیرومونه عربي هېوادونو ته صادر کړي دي. د دې تر څنګ، په تېر کال کې د هېواد په کچه، ۱۶۱۰ ټنه، تاریخ تېر درمل، روغتیایي او خوراکي محصولات هم له منځه وړل شوي دي.

د روغتیایي خدمتونو له وړاندې کوونکو ۱۸۰ موسسو سره د همکارۍ تفاهم لیکونو لاسلیکول او د روغتیا سکتور کې د فعاله ۱۸۴ موسسو ثبتول؛ په تېر کال کې د وزارت له نورو اقداماتو څخه دي.

د وزارت معلوماتو له مخې، د ولسوالیو په کچه د روغتیایي مرکزونو رامنځته کول، په لرې پرتو سیمو کې د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو د کیفیت ښه کول، د جمهوریت روغتون تجهیزول، د ساري ناروغیو کنترول، د ماشومانو د فلج ناروغۍ له منځه وړل او د ظرفیت لوړولو د پروګرامونو په لار اچول؛ په روان کال کې د روغتیا وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي.#

# د سوداګرۍ وزارت: په تېر کال کې د سوداګرۍ حجم شاوخوا ۱۰ میلیارډه ډالر و او څه باندې ٦٤٦ تنو ته په مستقیم ډول کاري فرصتونه برابر شوي دي

د صنعت او سوداګرۍ وزارت مسئولینو د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام په لومړۍ ورځ، د یوه خبري کنفرانس پر مهال، په تېر کال کې د یاد وزارت د کړنو او لاسته راوړنو په اړه له رسنیو سره معلومات شریک کړل.

د صنعت او سوداګرۍ وزارت مسئولینو وویل: په تېر کال کې د افغانستان د سوداګرۍ حجم شاوخوا لس میلیارده ډالرو ته رسېدلی، چې له دې جملې ۱،۸ میلیارډه یې صادرات او څه باندې ۸ میلیارډه یې واردات وو.

د سوداګرۍ وزارت مسئولینو زیاته کړه، په تېر کال کې د منځنیو او کوچنیو تشبثاتو د ملاتړ او پیاوړتیا او له بېلابېلو موسسو سره د تفاهم لیکونو د لاسلیک له لارې، ۶۴۶۰۱۵ تنو ته په مستقیم او شاوخوا ۴۴۱۸۵۷۰ تنو ته په غیر مستقیم ډول کاري فرصتونه رامنځته شوي دي.

د سوداګرۍ وزارت وایي، د وروستي یوه کال پر مهال د سوداګرۍ او ترانزیټ د اسانتیا برخه کې د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره، لس هوکړه لیکونه وروستي شوي، د روسیې، چین، پاکستان، ایران، اوزبیکستان، ترکمنستان، قزاقستان، قرغیزستان او د سیمې نورو هېوادونو سره په اقتصادي، سوداګریزه، ترانزیټي او د پانګونې برخه کې همغږي پیاوړې شوې او شاوخوا ٦۵۰ تنو بهرنیو پانګوالو ته له افغانستان څخه د لیدنې پر مهال اړینې اسانتیاوې برابرې شوي دي.

د سوداګرۍ وزارت د مسئولینو د معلوماتو له مخې، تېر کال کې ۱۰۰ کارخونې پرانیستل شوي، شاوخوا ۱۰۰۰ تولیدي او صنعتي شرکتونو ته جوازونه او څه باندې ٦۵۰ شرکتونو ته تعرفې ورکړل شوي، د پانګونې څه باندې ۲۳ زره جوازونه تجدید، تمدید او اصلاح شوي، د خودکفایۍ کچه له ۴۸ قلمه څخه ۱۳۳ ته لوړه شوې او د سوداګرۍ برخه کې د اسانتیاوو، بیو کنترول او کنترول کمېټو په رامنځته کېدو سره، د لومړنیو او خوراکي توکو په بیو کې ۲۸ سلنه کموالی راغلی دی.

د سوداګرۍ وزارت مسئولینو د معلوماتو پر بنسټ، وروستي یوه کال کې روسیې ته د افغانستان د صادراتو کچه ۵۴، ترکیې ته ۵۳، ایران ته ۱۹، چین ته ۱٦ او قزاقستان ته ۲،۵ سلنه زیاته شوې ده. دغه راز د افغانستان او قزاقستان د خصوصي سکتور ترمنځ د نېږدې ۲۰۰ میلیونه ډالرو او د افغانستان او ترکمنستان د خصوصي سکتور ترمنځ د ۱۳ میلیونه ډالرو په ارزښت تړونونه هم لاسلیک شوي دي.

د وزارت مسئولینو، د صنعتي پارکونو پراختیا او د نویو صنعتي پارکونو جوړول، د ځانګړو اقتصادي زونونو رامنځته کول، د کورنیو تولیداتو معیاري کول، پر وارداتي توکو د کیفي معیاراتو وضعه کول او له ګاونډیو، سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د سوداګریزو اړیکو پیاوړتیا، د وزارت د راتلونکو پلانونو په توګه یاد کړل.

# عدليې وزارت د امارتي ادارو د يو کلنو لاسته راوړنو د تشريح پروګرام کې د خپلو يو کلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ

د عدليې وزارت مسئولينو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو په مرکز کې د امارتي ادارو د يو کلنو لاسته راوړنو تشريح پروګرام کې د ياد وزارت د يو کلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنيو سره، شريک کړ.

د عدليې وزارت د مسئولينو په وينا، دغه وزارت د اسلامي امارت په بيا واکمنېدو سره، د اداري فساد له منځه وړلو، تقنيني سندونو د تسويد او تدقيق، له امارتي شتمنيو څخه د دفاع، د جواز ليکونو د ورکړې او تمديد او حقوقي خدمتونو وړاندې کولو برخه کې مهم ګامونه اوچت کړي دي.

د وزارت مسئولين وايي، په تېر کال کې ۱۰۱ عنوانه تقنيني سندونه تسويد شوي، چې له دې جملې د ۹۵ سندونو فقهي تخريج تر سره شوی، امارتي ادارو ته ۱۸۴ حقوقي او قانوني مشورې ورکړل شوي، د ۵۹ تفاهم ليکونو او هوکړه ليکونو په اړه نظر ور کړل شوی، ۵۰ کړنلارې، مقررې او د عاليقدر امير المؤمنين (حفظه الله) فرمانونه تسويد او تدقيق شوي او په ټوليز ډول ۱۹۸ تنه د تقنيني او وکالت ستاژ له پروګرام څخه فارغ شوي دي.

د ياد وزارت د مسئولينو د معلوماتو پر بنسټ، له امارتي شتمنيو د ساتنې، د ځمکو غصب مخنيوي او املاکي شخړو د حل په موخه؛ د منقولو او غير منقولو شتمنيو او ملکيت له ۷۹۲۸ قضيو، ۲۳ حوېليو، ۲۵ دُکانونو، ۲ لوړپوړيزو ودانيو، ۲ سرايونو او يوه کلينيک څخه دفاع شوې، په اداري او تجارتي برخه کې د څه باندې ۱ ميليارډ او ۲۷ ميليونه افغانيو له جملې څخه، څه باندې ۱ ميليارډ او ۱۶ ميليونه افغانۍ د محکمو د قطعي پرېکړې په اساس د دولت خزانې ته تسليم شوي، څه باندې ۱۰ ميليونه او ۵۰۰ زره افغانۍ د امارت په ګټه فيصله شوي، دغه راز څه باندې ۲۳۴ زره امريکايي ډالر هم د محکمو د پرېکړې له مخې د دولت خزانې ته سپارل شوي دي.

مسئولين زياتوي، چې په وروستي يوه کال کې د معاملاتو لاربښوونې دفترونو ۳۶۷۲ او د اتحاديو او خيريه بنسټونو ۲۲۰ جواز ليکونه نوي شوي، د ۴۰۱ ټولنو، اتحاديو، خيريه بنسټونو او ۵۳۲۲ معاملاتو لاربښوونې له دفترونو څخه څارنه شوې ده.

د وزارت مسئولينو د خپلو خبرو په دوام وويل: چې په تېر يوه کال کې څه باندې ۱۱۰ زره تنو ته حقوقي پوهاوی ورکړل شوی، ۱۹۰۰ تنو سره په حقوقي برخه کې مرسته شوې، ۱۸۳۰ تنو ته حقوقي مشورې ورکړل شوي او ۵۷۷ تنه شکمنو کسانو د محکمې د حکم په اساس برائت حاصل کړی دی.

د مسئولینو په خبره، تېر یوه کال کې د مدافع وکیلانو ۱۵۹۰ جواز لیکونه نوي شوي، مدافع وکیلانو ته ۴۲۷۵ جزايي، معلوماتي او د مالیاتي بېلانس فورمې وېشل شوي، له مدافع وکیلانو او موکلینو څخه د شکایت ۲۶۰ عریضو ته رسېدنه شوې او له ۷۷۴ دار الوکالو څخه څارنه تر سره شوې ده.#

# د ټولګټو وزارت: په تېر کال کې د شاوخوا ۱۰۰۰ کیلومتره سړک د بیارغونې تړون لاسلیک شوی دی

د ټولګټو وزارت مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغه وزارت د یوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

د ټولګټو وزارت مسئولینو په دې خبري کنفرانس کې وویل: په تېر کال کې د شاوخوا ۱۰۰۰ کیلومتره سړک د بیارغونې تړون لاسلیک شوی او اوسمهال د کابل- کندهار لویې لارې د بیارغونې چارې په شدت سره روانې دي.

د ټولګټو وزارت مسئولین زیاتوي، د ۶۰۴,۱ کیلومتره سړک ابتدایي، د ۳۲۱,۶۵ کیلومتره سړک توپوګرافي او د ۹۹۷,۴ کیلومتره سړک مشاهداتي سروې تر سره کول، ۲۷۹,۴۸ کیلومتره سړک د ډیزاین او د ۱۶۰ متره پلونو د ترمیماتي ډیزاین د چارو بشپړېدل او د ۲۴۴,۸ کیلومتره سړک د ډیزاین چارو پیلول، په وروستي یوه کال کې د دغه وزارت له لاسته راوړنو څخه دي.

د مسئولینو د معلوماتو له مخې، په تېر کال کې د هېواد په کچه، د پراختیایي او زېربنایي پروژو د تطبیق له لارې، څه باندې ۱۵ زره تنو ته، په مستقیم ډول د کار زمینه برابره شوې ده.

دغه راز، د وزارت مسئولینو زیاته کړه، چې د اسلامي امارت په مالي تمویل سره، په اساسي ډول د ۸۰ کیلومتره په اوږدوالي د سالنګ لویې لارې، د ۱۰۸ کیلومتره په اوږدوالي د کندهار- ارزګان لویې لارې، د ۵۰ کیلومتره په اوږدوالي د ترینکوټ- دهراود سړک او د ۸۰ کیلومتره په اوږدوالي د معروف – ارغستان سړک، بیا رغونه د وزارت تر کار لاندې ده.

د مسئولینو په وینا، د ۳۰ کیلومتره په اوږدوالي د هرات- چشت شریف سړک د دویم لاټ او د ۱۵۱ کیلومتره په اوږدوالي د قیصار- لامان حلقوي سړک د دویم، څلورم او پنځم لاټ بیارغونه، د دغه وزارت په کاري لومړیتوبونو کې ځای لري.

د ټولګټو وزارت مسئولینو د خپلو خبرو په دوام وویل، چې په تېر کال کې له پروژو څخه د ساتنې او څارنې په موخه، د ۱۰۹ پروژو له ډلې د ۸۵ پروژو د ساتنې او څارنې چارې بشپړې شوي او ۲۴ نورې پروژې تر کار لاندې دي. د دې ترڅنګ، د ۱۶۹۸ کیلومتره سفالټ سړک د ترمیم او داغګیرۍ چارې هم بشپړې شوي دي.

دغه راز، د وزارت مسئولينو زياته کړه، چې د خواف – هرات د څلورمې برخې د اول فاز او د حيرتان – مزار د ريلي او غير ريلي برخو د اساسي ترميم پروژې تړون لاسليک شوي او د خواف – هرات د څلورمې برخې د دويم فاز د چارو پيلول هم د وزارت د کاري لومړيتوبونو په سر کې ځای لري.

د وزارت د معلوماتو پر بنسټ، د ۱۵ کيلومتره په اوږدوالي د فرخار – ورسج سړک او د نيمروز ولايت په سرشيلې سيمه کې د ۳۰۰ متره په اوږدوالي د يوه پله د جوړولو چارې بشپړې شوي دي. همدارنگه د ۱۰ کيلومتره په اوږدوالي د گردېز – زرمت د سړک او د ۲۴,۱۵ کيلومتره په اوږدوالي د کابل – لوگر لويې لارې د دويم لين د جوړولو تړون له خصوصي شرکتونو سره لاسليک او همدا مهال يې د جوړولو چارې دوام لري.#

# د کار او ټولنیزو چارو وزارت هوډ لري چې ۱,۵ میلیونه کسانو ته د کار زمینه برابره کړي

د کار او ټولنیزو چارو وزارت مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغه وزارت د یوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

د کار او ټولنیزو چارو وزارت مسئولینو په دې خبري کنفرانس کې وویل: دغه وزارت د کار ملي کنفرانس په جوړولو او له بېلابېلو ادارو سره د ۱۵ تفاهم لیکونو په لاسلیکولو، هوډ لري چې ۱,۵ میلیونه کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره کړي.

مسئولینو زیاته کړه، په تېر یوه کال کې د کار بازار له اړتیا سره سم، ۷۴۷۳۸ کسانو ته فني او حرفوي زده کړې ورکړل شوي دي. همدا راز ۱۱۸۷۵۵ کورنیو او ۳۳۸۱ بهرنیو اتباعو ته د کار جوازونه وېشل شوي، د فني او حرفوي زده کړو ۱۵ موسسو د فعالیت جوازونه ترلاسه کړي او د ۴ نورو موسسو د فعالیت جوازونه تمدید شوي دي.

د مسئولینو په وینا، د تېر کال په اوږدو کې له ٦٨ موسسو سره د پاملرنې، فني او حرفوي زده کړو او بشري مرستو په برخه کې د همکارۍ تفاهم لیکونه لاسلیک شوي، چې له دې لارې ٦٠ زره کسانو ته ګټه رسېدلې او ۳ زره نورو کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده.

په همدې ډول د کار او ټولنیزو چارو وزارت، په تېر یوه کال کې د اوو زونونو په کچه د کار بازار، کاري فرصتونو، کاري ځواک او فني او حرفوي زده کړو په اړه، هر اړخیز مطالعات ترسره کړي دي.

مسئولینو څرګنده کړه، چې په تېر یوه کال کې له ٦۳۴۱ یتیمانو سره مرسته شوې او ۱۰۲۹۷ ماشومانو ته د زده کړو زمینه برابره شوې ده. همدارنګه له قطر، روسیې او متحده عربي اماراتو سره د ماهرو او نیمه ماهرو کارګرانو د لېږلو په اړه، لازمه همغږي شوې او د ۹ تفاهم لیکونو مسودې هم په محلي او انګلیسي ژبه چمتو شوي دي. د دې تر څنګ، دغه وزارت له بېلابېلو ادارو سره د همکارۍ تفاهم لیکونو د لاسلیک له لارې له ۸۰۲۲۵۲ اړمنو کورنیو سره مرسته کړې ده.

مسئولینو د خپلو خبرو په دوام وویل، چې د کار ملي کنفرانس د ژمنو تعقیب، د کار د جوازونو وېش، له ۲۷ ولایتونو څخه د کار بازار په اړه د هر اړخیزه معلوماتو راټولول او له قطر، ایران، سعودي عربستان، ترکیې او متحده عربي اماراتو سره د تفاهم لیکونو د لاسلیک تعقیبول، د وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي.

د وزارت د معلوماتو پر بنسټ، د زونونو په کچه د کارمندنې مرکزونو جوړول، د تقنيني اسنادو نهايي کول، په امارتي ادارو کې د پوهاوي ورکولو پروګرامونو تنظيم، د کارمندنې موسسو له کړنو څخه څارنه، د روزنيزو، فني او حرفوي پروګرامونو په لار اچول، د ماشومانو قضيو ته رسېدنه، د بې سرپرسته او يتيمو ماشومانو د ملاتړ پروګرامونو دوام او د کاري فرصتونو رامنځته کول؛ د وزارت تر کار لاندې پروګرامونه دي.

# د کانونو او پټرولیم وزارت د تیر کال د کړنو راپور وړاندې کړ

په هغې خبري ناسته کې چې د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې جوړه شوې وه، د کانونو او پټرولیم وزارت مسئولینو د تېر کال د فعالیتونو راپور وړاندې کړ.

په ۲۸ ولایتونو کې د ۶۴۷ کاني ساحو سروې، د ۲۰۰۰، ۵۰۰۰، ۱۰۰۰۰، ۲۵۰۰۰ او ۵۰۰۰۰ په مقیاس د جیولوژیکي نقشو ډیجیټل کول او د کاري فرصتونو رامنځته کول په تېر کال کې د دغه وزارت له مهمو فعالیتونو څخه دي.

چارواکي وايي، له کورنیو پانګوالو سره د ۸۰ کوچنیو کانونو قراردادونه لاسلیک شوي او د ۱۰ کوچنیو کانونو قراردادونه هم لغوه شوي دي.

د چارواکو په وینا، د کانونو وزارت دا مهال د شاوخوا ۱۰ میلیارد افغانیو په ارزښت د وړو کانونو ۱۶۷ فعال قراردادونه لري، چې له مخې یې په مستقیم او غیر مستقیم ډول زرګونه کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده.

چارواکي وايي، د تېر کال په اوږدو کې دغه وزارت د کانونو د پروسس ۵۲ جوازونه شرکتونو ته ورکړي دي.

د دغه وزارت د معلوماتو له مخې، د قیمتي ډبرو د قانوني استخراج لپاره طرزالعملونه ترتیب شوي او په تېرو درېیو کلونو کې یې د قیمتي ډبرو د غیر قانوني استخراج او قاچاق مخه نیولې ده.

چارواکي وايي، د تېر یوه کال په ترڅ کې په پنجشېر ولایت کې د زمرد کان شاوخوا ۱۷۰۰ سیمې سروې او تثبیت شوي او د قانوني استخراج لپاره یې ۵۷۵ جوازونه صادر کړي، چې ۱۵زره کسانو ته یې د کار زمینه برابره کړې ده.

چارواکي زیاتوي، چې تېر کال د څه باندې ۵،۵ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت ۷۸ زره قیراط زمرد د داوطلبۍ له لارې پر کورنیو او بهرنیو پانګوالو پلورل شوي دي.

د چارواکو په وینا، په تېر یوه کال کې په هرات، تخار، غور، پروان، کابل، بغلان، فاریاب او ننګرهار ولایتونو کې د ۱۳ لویو کانونو د استخراج تړونونه لاسلیك شوي، چې زرګونو کسانو ته یې د کار زمینه برابره کړې ده.

د دغه وزارت د معلوماتو له مخې، اوسمهال په غور، بدخشان، پنجشیر، کندهار، غزني، لوګر، جوزجان، کندز او فاریاب ولایتونو کې ۱۲ مهمې پروژې تر کار لاندې دي او په غور، بادغیس او میدان وردګو، هرات، پروان، بامیان، کاپیسا او ننګرهار ولایتونه کې د یو شمېر نورو مهمو پروژو د پیل لپاره لازم تدابیر نیول شوي دي.

د چارواکو د معلوماتو له مخې، د فاریاب ولایت په اندخوی ولسوالۍ کې د ۱۴ کیلومتره مربع د مالګې کان د ۲۴ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د ۱۵ کلونو لپاره او دغه راز په تخار ولایت کې د مالګې د کان قرارداد د ۵۰۰ میلیونو افغانیو په ارزښت له کورنیو شرکتونو سره لاسلیک شوي دي.

د چارواکو په خبره، د قشقري، انگوت او آق دریا له ۲۱ ساحو څخه د نفتي موادو د استخراج پروسه روانه ده، چې هره ورځ له دغو ساحو څخه شاوخوا ۱۳۰۰ ټنه خام تېل استخراجېږي، چې له امله يې ۳ زره کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شوې ده.

دغه راز دغه وزارت د جوزجان ولایت په یتیم تاق سیمه کې د گازو د زیرمو د پراختیا په موخه د ۳۳او ۳۵ نمبر څاگانو د کیندلو تړون هم له یوه ترکي شرکت سره لاسلیک کړی دی.

د کانونو قانون، د هایدرو کاربنونو قانون او د ټاپي پروژې د استملاک قانون د بیاکتنې او تصویب لپاره ذیصلاح مراجعو ته استول شوي دي. همدا راز د ۴۱ طرزالعملونو په ترتیبولو کار روان دی، چې له دې جملې څخه ۱۵ طرزالعملونه ترتیب شوي، ۴ طرزالعملونه تر کار لاندې دي او پاتې ۲۲ طرزالعملونه په پلان کې دي.

چارواکي وایي، تېر کال دغه وزارت د چارو د لا ښه تنظیم او پرمختگ په موخه له کورنیو او بهرنیو بنسټونو سره د همکارۍ ۸ تړونونه لاسلیک کړي دي.

برمبنای معلومات، سروی معادن و زمینه سازی برای جلب بیشتر سرمایه‌گذاری، اعلان و داوطلبی معادن به مقیاس کوچک و بزرگ، نهایی ساختن اسناد تقنینی، زمینه سازی برای تحقق پروژه‌های بزرگ ملی و زیربنایی در کشور و انکشاف سیستم‌ها از اولویت‌های مبرم این وزارت طی سال جاری می‌باشد.

د معلوماتو پر بنسټ، د کانونو سروې کول او د پانگونې د جلبولو لپاره د زمینې برابرول، د کوچنیو او لویو کانونو لپاره داوطلبي، د تقنیني اسنادو نهایي کول، په هېواد کې د سترو ملي او زیربنایي پروژو د تطبیق لپاره د اړینو فرصتونو برابرول او د سیستمونو پراختیا د یاد وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي.#

# پوهنې وزارت: څه باندې ۱۰ میلیونه زده کوونکي په دولتي او خصوصي ښوونځیو کې په زده کړو بوخت دي

د پوهنې وزارت مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغه وزارت د یوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

د پوهنې وزارت مسئولینو په یاد خبري کنفرانس کې وویل: په دولتي او خصوصي ښوونځیو کې ۱ میلیون ۴۴۵ زره او ۸۴۰ تنه نوي زده کوونکي جذب شوي، چې په دې سره په دولتي او خصوصي ښوونځیو کې د زده کوونکو ټولیز شمېر څه باندې ۱۰ میلیونه او ۹۱۴ زرو ته رسېږي. همدا راز، د هېواد په کچه ۱۰۶ دولتي او ۲۱۰ خصوصي ښوونځي نوي تاسیس شوي، چې په دې سره د دولتي او خصوصي ښوونځیو ټولیز شمېر ۱۸ زره او ۳۳۷ ته لوړ شوی دی.

مسئولینو زیاته کړه، په ټولیز ډول ۱۵۲ دولتي او خصوصي لومړنیو ښوونځیو، منځنیو ښوونځیو او ۱۱۹ دولتي او خصوصي منځنیو ښوونځیو لېسو ته ارتقا کړې ده. همدارنګه ۱۲۳ ښوونځي او ۱۵۹ محلي ټولګي د کوچیانو ماشومانو ته ځانګړي شوي، چې اوسمهال ۴۱ زره او ۸۲۴ زده کوونکي پکې په زده کړو بوخت دي. همدارنګه د هېواد په ۱۸ ولایتونو کې ۴۸۴ معلولو ماشومانو ته د ځانګړو زده کړو ښوونیزو مرکزونو کې د زده کړې زمینه برابره شوې او په ۱۹ ولایتونو کې ۳ زره او ۸۴۴ معلولو زده کوونکو ته درسي وسایل او امکانات برابر شوي دي.

د مسئولینو په وینا، دغه وزارت په تېر یوه کال کې د درسي کتابونو او مفرداتو د بیا کتنې او اصلاح او په تعلیمي بنسټونو کې د خدمتونو وړاندې کولو د کیفیت ارزونې برخه کې پرله پسې هڅې کړې دي.

په همدې ډول، له لومړي څخه تر دولسم ټولګي پورې ۱۶ میلیونه ۱۸۸ زره او ۹۳۹ ټوکه درسي کتابونه، د اسلامي زده کړو د مرکزونو لپاره ۶۱۷ زره او ۹۷۸ ټوکه درسي کتابونه او د سواد زده کړې ۲۹۴ زره او ۶۴۱ ټوکه کتابونه چاپ او وېشل شوي دي. دغه راز د څه باندې ۱۶ زره ښوونځیو د ښوونیز پلان له تطبیق او په ښوونیزو مرکزونو، محلي ټولګیو او سواد زده کړې پروګرامونو کې د څه باندې ۲۱ زره ښوونکو د تدریس له بهیر څخه څارنه شوې، چې له دې جملې څخه ۵۰۷۶ ښوونکي د ظرفیت لوړونې پروګرامونو ته معرفي شوي دي.

مسئولین زیاتوي، چې په تېر کال کې د وزارت ۲۴۸۱۱۳ کارکوونکو او ښوونکو ته د ظرفیت لوړونې پروګرامونه جوړ شوي او د هېواد په کچه د ۱۹۶۶۹ مدرسو، ۱۲۷۷ دارالحفاظونو، ۱۱۵ دارالعلومونو او ۳۹ دارالایتامونو په ګډون د اسلامي زده کړو ۲۱۲۵۷ مرکزونه جوړ شوي، چې ۳ میلیونه ۶۸۷ زره او ۲۰۰ تنه پکې په اسلامي زده کړو بوخت دي.

په تېر کال کې د هېواد په دننه او بهر کې د اسلامي زده کړو مرکزونو د فارغانو د تحصیلي اسنادو ارزونې په موخه په مرکز او ولایتونو کې څه باندې ۲۰ زره د سویې د تثبیت فورمې وېشل شوې، چې د ازموینې تر اخیستو وروسته، ۳۵۳۲ تنه خامسه او ۵۸۷۹ مافوق الثانویه دورې ته بریالي شوي. همدا راز ۳۳٦ قاریان هم په یاده ازموینه کې کامیاب شوي دي.

د مسئولینو په وینا، د پایلو او شهادنامو اسنادو د طی مراحلو او انتقال بهیر د ساده او ګړندی کولو په موخه، په دې وروستیو کې له افغان پوسټ سره د همکارۍ تړون لاسلیک شوی دی. همدارنګه د لا زیاتو همکاریو د جلبولو په موخه له کورنیو او بهرنیو بنسټونو سره د همکارۍ ۱۹ تفاهم لیکونه لاسلیک شوي او ۳۵۷۰ شکایتونو ته رسېدنه شوې ده.

په همدې ډول، د دولسم ټولګي فارغانو ته ۳۰۳ زره شهادتنامې وېشل شوي او د فارغانو ۲ میلیونه او ۹۰۰ زره قطعې نتایج په الکترونیکي سیستم کې ثبت شوي دي. دغه راز په ښوونیزو بنسټونو کې د ازموینو کیفیت د ښه والي په موخه، د معیاري ازموینو بورډ او د معیاري پوښتنو بانک رامنځته کول، د پوهنې قانون د مسودې چمتو کول، د مدرسو د تاسیس او د جهادي مدرسو رامنځته کولو د قوانینو نافذول؛ په تېر کال کې د دغه وزارت له نورو اقداماتو څخه دي.

د مسئولینو د معلوماتو له مخې، د ښوونځیو، مدرسو او اداري دفترونو د جوړولو لپاره ۸۰۴ جریبه ځمکه تدارک شوې، ۹۸۱ اساسي او ترمیماتي پروژې تر کار لاندې دي، په ولایتونو کې ٦۵۰ ښوونځي او مدرسې جوړ او ۱۵۰۰ نور ښوونځي او مدرسې ترمیم شوي دي.

# امر بالمعروف او نهې عن المنکر وزارت د خپلو یو کلنو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ

د امر بالمعروف، نهې عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغه وزارت د یوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

د تقنیني او اصولي اسنادو د مسودې ترتیب، په ملکي او نظامي ارګانونو او عامه ځایونو کې د معروفاتو اقامه او د منکراتو منعه کول، د شکایتونو د ثبتولو لپاره د ۱۹۱ وړیا شمېرې فعالول، د ظرفیت لوړونې د پروګرامونو جوړول او د احکامو او فرامینو له تطبیق څخه څارنه؛ په تېر یوه کال کې د یاد وزارت له مهمو فعالیتونو څخه دي.

د وزارت مسؤلینو په دې خبري کنفرانس کې وویل: د عالیقدر امیر المؤمنین (حفظه الله) د فرمان په صادرېدو سره، په ۳۳۸ مواردو کې په بدو کې د ښځو له ورکولو او ۲۹۵ مواردو کې د ښځو له پلورلو څخه مخنیوی شوی او ۱۳۱۳ دښمنۍ په دوستۍ بدلې شوي دي.

د مسئولینو په وینا، د عالیقدر امیر المؤمنین (حفظه الله) د فرمان په اساس، په ۷۸۹ مواردو کې د میراث له حق څخه بې برخې ښځې له میراث څخه برخمنې شوي، په ۲۶۳۸ مواردو کې د ښځو پر واندې د تاوتریخوالي مخه نیول شوې او د ۲۴۶۹ ناستو له لارې د عقیدوي انحرافاتو، غلطو رواجونو او منکراتو مخنیوی هم شوی دی. همدارنګه، د عالیقدر امیر المؤمنین (حفظه الله) لخوا د شکایتونو اورېدلو قانون توشیح شوی او ۱۱ تقنیني او اصولي سندونه چمتو او د طی مراحلو لپاره اړوندو مراجعو ته استول شوي دي.

مسؤلین زیاتوي، چې د وزارت ستراتېژیک پلان وروستی شوی او د ۱۱ امارتي ادارو په پالېسیو او ستراتېژیکو پلانونو کې له شرعي احکامو سره سمې اړینې سپارښتنې هم درج شوي دي. د دې تر څنګ، په ۲۷۵۱۸ امارتي او غیر امارتي ادارو، ۴۱۹۳۶۹ مسجدونو، ۹۶۳۵۵ ښوونیزو، تحصیلي او روغتیایي مرکزونو، ۶۸۹۷۹ هوټلونو، ۳۹۲۱۸ حمامونو او سلمانیو، ۱۵۵۷۵ سپورټي کلبونو او ۵۰۰ د خیاطۍ دکانونو او نورو عامه ځایونو کې د معروفاتو د اقامې او منکراتو د ازالې په موخه، هم اړین اقدامات تر سره شوي دي.

د تېر یوه کال پر مهال، ۲۵ شراب خونې تړل شوي، د موسیقۍ ۲۱۳۲۸ الې له منځه وړل شوي، ۱۳۲۵۰ نشه یي ټابلېټ نیول شوي او عاملین اړوندو مراجعو ته سپارل شوي او په بازارونو کې د مبتذلو فلمونو خپرونکو ۲۵۶۴۷ کمپیوټر کارانو د فعالیت مخنیوی شوی دی. همدارنګه، د غږیزو، انځوریزو او چاپي رسنیو ۹۰ سلنه، نشرات اصلاح شوي، د

ټولنې د اصلاح لپاره، په مرکز او ولایتونو کې ۳۰ زره غیر اخلاقي فلمونه له منځه وړل شوي، قیلون خونې او قمارخونې تړل شوي، ۴۴۸ تعویذ کوونکي او ۵۲۸ سحر کوونکي تر نیولو وروسته عدلي او قضایي ارګانونو ته سپارل شوي دي.

د مسئولینو د معلوماتو له مخې، په تېر کال کې د ۱۹۱ وړیا شمېر په فعالېدو سره په ټولیز ډول ۹۸۰۸ شکایتونه ثبت شوي چې له دې جملې څخه ۵۴۸۶ شکایتونو ته رسېدنه شوې ده. همداراز، په ۵۴ امارتي ادارو کې د احکامو او فرامینو د تطبیق له څرنګوالي څخه په دوامداره ډول څارنه شوې، د وزارت ۷۰۲۲ محتسبینو او کارکوونکو ته د ظرفیت لوړونې ۱۰۴ پروګرامونه جوړ شوي او د دعوت او ارشاد برخه کې د امارتي ادارو کارکوونکو ته، درسي نصاب هم چمتو شوی دی.

د مسؤلینو په خبره، د تقنیني او اصولي اسنادو ترتیب او وروستي کول، د پالېسیو انکشاف، په نظامي قطعاتو کې د معروفاتو اقامه او د منکراتو مخنیوی، د ظرفیت لوړونې پروګرامونو جوړول، د شکایتونو ثبتول او ورته رسېدنه او د عامه افکارو اصلاح؛ په روان کال کې د وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي.

# اقتصاد وزارت: تېر کال کې غیر امارتي موسسو په بېلابېلو برخو کې ۲۱۹۴ پروژې تطبیق کړي چې له امله یې څه باندې ۲۰۰ زره کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده

د اقتصاد وزارت مسئولینو د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام په دویمه ورځ، د یوه خبري کنفرانس پر مهال، په تېر کال کې د یاد وزارت د کړنو او لاسته راوړنو په اړه له رسنیو سره معلومات شریک کړل.

د افغانستان د ملي پراختیا د پنځه کلنې ستراتېژۍ د مسودې ترتیب، د کرنې، صنعت، سوداګرۍ، پوهنې او روغتیا سکتورونو د وضعیت تحلیل، د کار د اقتصادي لیدلوري ترتیب، د غیر امارتي موسسو د فعالیتونو څارنه، د پروژو د چاپېريالي او ټولنیزو اغېزو ارزونه او په ملي او نړیوالو ناستو کې فعاله ګډون، په وروستي یوه کال کې د یاد وزارت له مهمو فعالیتونو څخه دي.

د وزارت مسئولین وایي، چې په وروستي یوه کال کې د غیر امارتي کورنیو او بهرنیو موسسو لخوا د بشري او بېړنیو مرستو او پراختیا برخه کې شاوخوا ۲۱۹۴ پروژې پلې شوي، چې له امله یې څه باندې ۲۰۰ زره کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده. دغه راز په روان کال کې د نېږدې یو میلیارډ او اته سوه میلیونه ډالرو په ټولیز ارزښت، شاوخوا ۱۳۳۸ پروژې تر کار لاندې دي.

د مسئولینو د معلوماتو له مخې، ۲۴۷۷ غیر امارتي موسسې په هېواد کې فعالیت لري، چې ۲۱۹۹ یې کورنۍ او ۲۷۸ یې بهرنۍ موسسې دي. دغه راز په تېر کال کې ۱۵۹ کورنۍ او ۱۴ بهرنۍ موسسې تازه ثبت شوي او د ۳۱۵ کورنیو او ۶۰ بهرنیو موسسو د فعالیت جوازونه تمدید شوي دي او د ۲۴ میلیونه ډالرو په اندازه، ۱۰۴۷ کورنیو او بهرنیو موسسو ته ګمرکي معافیت ورکړل شوي دی.

د وزارت د مسئولینو په وینا، په مرکز او ولایتونو کې د ۳۷۹ پراختیایي پروژو د کار له جریان څخه څارنه شوې او د ۷۰ نورو پراختیایي پروژو، چې د هندوستان هېواد لخوا تموېلدې د وضعیت ارزونه شوې چې د ارزونې راپور یې د پروژو د چارو د بشپړېدو په موخه، له هغه هېواد سره شریک شوی دی.

د اقتصاد وزارت مسئولینو د معلوماتو پر بنسټ، د افغانستان د ملي پراختیا د ستراتېژۍ وروستي کول، د کرنې، کلیو پراختیا، روغتیا، پوهنې، حکومتولۍ، امنیت، او مسکن سکتورونو د وضعیت تحلیل، د حلقوي، ولایتي او کانونو د سړکونو د وضعیت تحلیل، د ۱۴۰۳ کال د کار د اقتصادي لیدلوري ترتیب، د بهرنۍ سوداګرۍ، پانګونې، خصوصي او

بانکي سکتورونو د وضعیت تحلیل، د ۱۴۰۴ کال د ولایتي پراختیایي پروګرامونو اولویت بندي او غیر امارتي موسسو ته د اړینو اسانتیاوو برابرول؛ په روان کال کې د اقتصاد وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي.

# د اطلاعاتو او کلتور وزارت د خپلو یو کلنو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ

د اطلاعاتو او کلتور وزارت مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغه وزارت د یوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

د اطلاعاتو او کلتور وزارت مسئولینو په دې خبري کنفرانس کې وویل: له ۱۰۰ خصوصي پوهنتونونو، انستیتیوټونو او ښوونیزو مرکزونو سره، د همکارۍ تفاهم لیکونو د لاسلیک له لارې، په مرکز او ولایتونو کې ۱۵۸۱ تنه ځوانانو ته د وړیا او ۱۷۷۸۷ نورو ته په تخفیف سره د زده کړو زمینه برابره شوې ده. دغه راز، له نړیوالو ادارو سره په تفاهم او همغږۍ د ځوانانو د مسلکي زده کړو او ظرفیت لوړونې لپاره، ۱۸ ښوونیز مرکزونه رامنځته شوي، چې ۱۴ زره ځوانانو ور څخه ګټه پورته کړې ده.

مسئولینو زیاته کړه، چې د تېر کال پر مهال په مرکز او ولایتونو کې د ځوانانو د وړتیاوو لوړونې په موخه، ۳۱۰ روزنیز سیمینارونه او فرهنګي غونډې جوړې شوي دي.

د وزارت د مسئولینو په وینا، په تېر کال کې د رسنیو  شکایتونو د څېړلو او اصلاح لپاره هر اړخیزه طرحه جوړه شوې ده.همدارنګه د تلویزیوني، راډیویي او یوټیوب چینلونو او چاپي رسنیو ارزونه شوې، چې په پایله کې یې د تلویزیونو ۵۵، د راډیو ګانو ۶۹ او د یوټیوب چینلونو ۳۲۰  سرغړونې تر پېژندنې وروسته، د اسلامي امارت له پالیسۍ سر سم اصلاح شوي دي.

د مسئولینو د معلوماتو له مخې، دغه وزارت هوډ لري، چې ګرځندوی صنعت ته په معیاري توګه وده ورکړي، په همدې موخه تېر کال کې د ګرځندوی او هوټلدارۍ انستیتیوټ فعال او اوسمهال عملاً زده کوونکي پکې روزل کېږي. همدا راز په تېر کال کې شاوخوا ۹ زره بهرنیو او څه باندې ۹ میلیونه کورنیو سیلانیانو د هېواد له تاریخي او تفریحي ځایونو څخه لیدنه کړې ده. د دې تر څنګ، کورنیو او بهرنیو سیلانیانو ته د اسانتیاوو برابرولو په موخه، په سیاحتي سیمو کې د معیاري هوټلونو د جوړولو چارې هم دوام لري.

د ګرځندوی صنعت په برخه کې ۳ زره شرکتونه د اطلاعاتو او کلتور له وزارت سره ثبت دي، چې په زرګونو کسان پکې په مستقیم او غیر مستقیم ډول په کار بوخت دي.

مسئولین زیاتوي، چې تر اوسه ۶۲۰ خبریالانو ته د خبریالۍ کارتونه وېشل شوي، د یوټیوب چینلونو لپاره کړنلاره نهایي شوې او د خبریالانو د صندوق کړنلاره هم چمتو شوې ده. دغه راز، د هېواد په ۱۴ ولایتونو کې د ۴۰۰ لرغونو سیمو علمي سروې ترسره شوې او ۳۷۱ لرغونې سیمې تثبیت او پېژندل شوي دي.

په همدې ډول، د څه باندې ۱۰ زره ترانو او نعتونو راټولول، د تیاتر د ۱۲ نمایشونو تدویر، د بېلابېلو دورو د ۲۴۱۰ لرغونو اثارو ثبت او د کابل په هوایي ډګر او د هېواد په ګمرکونو کې د ۴۱۶ تاریخي اثارو د قاچاق مخنیوی؛ په تېر کال کې د وزارت له مهمو فعالیتونو څخه دي.

د مسئولینو په خبره، د بېلابېلو مسایلو په اړه ۶ مستند فلمونه جوړ او خپاره شوي، ۱۱ فلم نامې او سریالونه اصلاح او د نقاشۍ، خطاطۍ، میناتورۍ او لاسي صنایعو ۲۰ نندارتونونه په لار اچول شوي دي. همدارنګه د باختر خبري اژانس، دولتي ورځپاڼو او بیهقي کتابتون د فعالیتونو د بډاینې او پیاوړتیا لپاره هم مهم ګامونه پورته شوي دي.#

# د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د خپلو یو کلنو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغه وزارت د یوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت مسئولینو په یاد خبري کنفرانس کې وویل: په تېر یوه کال کې د هېواد په یو شمېر ولایتونو او ۲٦۰ نظامي مرکزونو کې د قرآن کریم د تفسیر او ترجمې پروګرامونو له څرنګوالي څخه څارنه شوې ده. دغه راز سعودي عربستان ته د ۳۰ زره حاجیانو د لېږد لپاره اړینې اسانتیاوې او شرایط برابر شوي او ٦۵۲ تنه جید علماء د استادانو په توګه هغه هېواد ته استول شوي دي.

مسئولینو زیاته کړه، چې په ګمرکونو کې د ۱۳ جوماتونو او د ولایتونو په مستوفیتونو کې د ۲۵ جوماتونو د جوړولو لپاره لازم تدابیر نیول شوي دي. همدارنګه، په لوګر ولایت کې د استیناف محکمې اړوند د یوه جومات، په بدخشان ولایت کې د نبوي جومات او عیدګاه جومات، په فاریاب ولایت کې د درې جوماتونو او په بلخ ولایت کې د حاجیانو د مجتمع جوړولو له چارو څخه په دوامداره توګه څارنه شوې ده.

په همدې ډول، په مرکز او ولایتونو کې د جوماتونو د امامانو لپاره د ظرفیت لوړونې د ۴ سیمینارونو جوړول، په ۱۴ ولایتونو کې د ۷۵ جوماتونو سمبالول او د ټرانسپورټ وزارت، اټومي انرژۍ ادارې، سټنډرډ ادارې، د سمنګان ولایت مقام او د فراه ولایت محکمې په مربوطاتو کې د ۵ جوماتونو جوړول؛ په تیر کال کې د وزارت له عمده فعالیتونو څخه دي.

د مسئولینو په خبره، د عمرې او زیارت له ۱۳۲ متقاضي شرکتونو سره تړونونه لاسلیک شوي، د عمرې او زیارت متقاضي شرکتونو ته ۴۲ جوازونه ورکړل شوي، سعودي عربستان ته د ۴۴۳۰۷ معتمرینو او عمرې متقاضیانو د لېږد لپاره لازمې اسانتیاوې برابرې شوي او د ۴۰ قراردادي شرکتونو له فعالیتونو څخه په دوامداره ډول څارنه شوې ده.

مسئولینو د خپلو خبرو په دوام وویل: د بېلابېلو مسایلو په اړه ۳۵۳ فتواګانې صادرې شوي، په ۴۲ مواردو کې د قرآن کریم، تفسیرونو، کتابونو او رسایلو د چاپ د صحت په اړه نظر ورکړل شوي او ۷ علمي اثار تالیف او تدوین شوي دي. همدارنګه نړیوالو سیالیو ته د ممتازو قاریانو د ورپېژندنې په موخه، په ټول هېواد کې د قرآنکریم د حفظ، تجوید او قرائت سیالۍ تر سره شوي، چې په پایله کې یې ۳ قاریان او یو داور په ایران کې د قرآنکریم د نړیوالو سیالیو څلوېښتم پړاو او ۲ قاریان په ترکیې کې د قرآنکریم د نړیوالو سیالیو نهم پړاو ته ورپېژندل شوي دي.

د مسئولینو په وینا، په تېر کال کې ۸۵۰۸ تنه د دیني علومو له بېلابېلو څانګو، ۸۰ تنه د ائمه تدریب ستاژ له لومړۍ دورې او ۱۵ تنه د قرائت له عالي انستیتیوټ څخه فارغ شوي دي.

مسئولین زیاتوي، چې په غور، کابل، سرپل، کندز، جوزجان، میدان وردګو او لغمان ولایتونو کې د جوماتونو، مدرسو او هدېرې لپاره ۱۲۷ جریبه ځمکه ثبت شوې ده. دغه راز د میدان وردګو، غزني، زابل او کندهار په لویه لار کې هم د جوماتونو جوړولو لپاره ۱۸ جریبه ځمکه تثبیت شوې ده.

د وزارت د مسئولینو د معلوماتو پر بنسټ، په تېر کال کې د وزارت د رهبرۍ پلاوي په ایران کې د اسلامي مذاهبو د نېږدېوالي په ۲۷ کنفرانس او په ترکیې کې د اسلامي نړۍ د علماوو په مشورتي کنفرانس کې ګډون کړی. همدارنګه اوزبیکستان ته د سفر تر څنګ یې، د حاجیانو ستونزو ته د رسېدنې په موخه سعودي عربستان ته هم سفر کړی دی.

# د اوبو رسولو د ۲٦٦ پروژو په تطبیق سره، څه باندې یو نیم میلیون کسانو د ځښاک پاکو اوبو ته لاسرسی پیدا کړی دی

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغه وزارت د یوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت مسئولینو په یاد خبري کنفرانس کې وویل: په تېر یوه کال کې د هېواد په کچه، د ۱ میلیارډ افغانیو په ټولیز ارزښت، د اوبو رسولو ۲٦٦ پروژو د تطبیق پایله کې، ۱ میلیون ۵۲۵ زره او ۴۰۰ کسانو د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی پیدا کړی دی. دغه راز، د اوبو رسولو د ۱۴۹ پروژو چارې دوام لري، چې په بشپړېدو سره به یې ٦٦۴ زره او ۹۱٦ کسان د څښاک له پاکو اوبو څخه برخمن شي.

د وزارت مسئولینو زیاته کړه، چې په وروستي یوه کال کې په بادغیس، بغلان، بلخ، پروان، پکتیا، زابل، سرپل، فراه، کاپیسا، کندوز، نورستان، نیمروز او هرات ولایتونو کې د ۴۲٦ میلیونه افغانیو په ارزښت، د اوبو د ۱۰۰ کوچنیو بندونو او چکډمونو چارې بشپړې او ګټې اخیستې ته سپارل شوي دي.

همدارنګه د وزارت د چارواکو په وینا، په دې وروستیو کې د ۲۳ ولایتونو په ۵۱ ولسوالیو کې په سلګونو کیلومتره سړکونه جوړ شوي او په بېلابېلو ولایتونو کې د ۳۸۸ کیلومتره سړکونو د جوړولو چارې دوام لري. د دې تر څنګ، د بدخشان ولایت په واخان ولسوالۍ کې د ۵۰ کیلومتره سړک د جوړولو چارې هم دوام لري. دغه سړک افغانستان له چین سره نښلوي.

د وزارت چارواکي د خپلو خبرو په دوام زیاتوي، چې په نیمروز ولایت کې د کج ستار بند د جوړولو پروژې د امکان سنجونې مطالعه او د فراه ولایت، ګلستان ولسوالۍ کې د اوبو بند د ډیزاین چارې روانې دي چې په نېږدې راتلونکي کې به یې ساختماني کار هم پیل شي. دغه بند د اوبو بند ۱۴۰ میلیون متر مکعب اوبه زېرمه کوي، چې په چخانسور، خاشرود او دلارام ولسوالیو کې په ټولیز ډول د ۱۴ زره هکټاره کرنیزې ځمکې د خړوبولو وړتیا لري.

همدارنګه، د بادغیس ولایت په قادس ولسوالۍ کې د ۲,۵ میلیونه امریکایي ډالرو په ټولیز ارزښت، د اوبو بند جوړېږي، چې د دې پروژې په تطبیق سره به، ۱۴۰۰ هکټاره کرنیزه ځمکه تر اوبو لاندې او د سیمې اوسېدونکي به هم د څښاک اوبو ته لاسرسي پیدا کړي. همداراز، د ۳۳۵ میلیونه افغانیو په ارزښت، د قلعه نو د اوبو رسولو شبکې د جوړولو چارو ۸۵ سلنه پرمختګ کړی، چې د دې پروژې په بشپړېدو سره به، د سیمې ٦۵ زره اوسېدونکي د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی پیدا کړي.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د معلوماتو پر بنسټ، د ۷۵ میلیونه افغانیو په ټولیز ارزښت، د کندهار ولایت په سپین بولدک ولسوالۍ کې د ۵ کیلومتره استنادي دېوال جوړولو چارو ۹۵ سلنه پرمختګ کړی دی. دغه پروژه د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت له مهمو پروژو څخه ده، چې په تطبیق سره به یې سلګونه زره هکتاره کرنیزه ځمکه د موسمي سېلابونو له زیانونو څخه خوندي شي.#

# د اوبو او انرژۍ وزارت: د اوبو د مدیریت او برېښنا انرژۍ د تولید برخه کې اساسي گامونه اوچت شوي دي

د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروگرام د ناستو په دوام، د اوبو او انرژۍ وزارت مسئولینو، د دغه وزارت د یو کلنو کړنو او لاسته راوړنو په اړه، رسنیو ته معلومات ورکړل.

د اوبو او انرژۍ وزارت د مسئولینو په وینا، د هرات ولایت د پاشدان بند ودانیزې چارې بیا پیل شوي، د فراه ولایت د بخش اباد بند د لومړۍ برخې چارې ۳۷ سلنه پرمختگ کړی، د کابل د شاه و عروس بند او کمال خان بند درېیم فاز ودانیزې چارې تکمیل شوي. دغه راز د هلمند کجکي بند د دویمې برخې اول لاټ او د زابل توري بند ودانیزې چارې هم بشپړې شوي دي.

د وزارت مسئولین وایي، د ۱۴۰ کوچنیو بندونو د تطبیق چارې پیل شوې چې له دې ډلې ۱۱۷ پروژې بشپړې شوي، د امو سیند غاړو کې ٦ تحکیماتي پروژې تطبیق شوي، همدارنگه د همکارو موسسو په مرسته ۲۵۰ پروژې پلي شوي او د ۱۷۳ پروژو د ډیزاین او د منځنیو او وړو اوبیزو تاسیساتو د ۱۵۷ پروژو د تخنیکي ارزونې چارې هم تر سره شوي دي.

د برېښنا سکتور د پنځه کلن انکشافي پلان چمتو کول، د ابو مدیریت د ٦ کړنلارو تاییدېدل او د ۴ مقررو ترتیبول، له ادارو سره د تفاهم لیکونه لاسلیکول، د اوبو او برېښنا پروژو کې د پانگونې د ستراتېژۍ چمتو کول، د داخلي چارو د سمون پالېسۍ منظورېدل او اوبو مدیریت د پنځه مقررو وروستي کول، په تېر یوه کال کې د اوبو د مدیریت او برېښنا تولید برخه کې د وزارت له مهمو اقداماتو څخه دي.

د مسئولینو د معلوماتو له مخې، د کانالونو او لویو، منځنیو او وړو بندونو د شمېرو راټولول او اقتصادي تحلیل، د ځمکلاندې او سطحي اوبو د معلوماتو تحلیل، د اوبیزو تاسیساتو او برېښنا انرژۍ د معلوماتي سیستمونو او اوبیزو سرچینو د ملي معلوماتي بانک رامنځته کول او پراختیا؛ په تېر یوه کال کې د دغه وزارت له نورو فعالیتونو څخه دي.

دغه راز د وزارت مسئولین زیاتوي، چې د اوبو د ضایعاتو مخنیوي په هدف، د اوبو لگولو سنتي سیستم عصري شوی، د برېښنا د تولید او توزیع برخه کې ۷ او له اوبیزو سرچینو څخه د گټې اخیستې په موخه، ۱۴۱۷ حکمي او حقیقي شخصیتونو ته جوازونه ورکړل شوي دي. د اوبو له ۱۲۲ تاسیساتو او د هېواد په کچه د ۲۷۵ هایدرومترولوژیکي ستېشنونو څخه ساتنه او څارنه شوې ده.

د اوبو او انرژۍ وزارت چارواکو د معلومات له مخې، د هېواد اوبیزه جغرافیه په ۵ لویو او ۳۵ فرعي سیندیزو حوزو وېشل شوې، چې د مرکزي او سیمه ییزو ادارو لخوا مدیریت کېږي.

د ۵۰۰ کیلو ولټه په ظرفیت د ارغندی سب سټېشن د چارو پیلېدل، په پکتیکا، فراه او ارزگان کې د توزیعي شبکو تمدید او د ۸ میگاواټه برېښنا تولید پروژې د چارو پیلېدل، د نغلو د ۱۰ میگاواټه لمریزې برېښنا د پروژې بشپړېدل، د دشت الوان – ارغندی د ۵۰۰ کیلو ولټه برېښنا مزي پروژې د چارو پیلېدل، د ۱۴۰ میگاواټه په ظرفیت د لمریزې او بادي برېښنا پروژو د امکان سنجونې مطالعه او د ټاپ پروژې د چارو سمون په موخه، د سکرتریت رامنځته کول؛ په وروستي کال کې د وزارت له نورو مهمو فعالیتونو څخه دي.

د مسئولینو د معلوماتو پر بنسټ، د اوبو مدیریت برخه کې د ۱۴ تقنیني سندونو تسوید او منظوري، د اوبو مدیریت برخه کې د څه باندې ۱۰ میلیارده افغانیو په ارزښت د ۵۸۱ پروژو د ساختماني چارو د پلان ترتیبول، د ۲۶۵ پروژو د تطبیق لپاره د اړینو تدابیرو نیول، د ځمکلاندې او سطحي اوبو د شمېرو راټولول، په سیندیزو او اوبیزو حوزو کې د اقلیمي بدلون د اغېزو څېړنه، د اوبیزو شخړو حلول، له اوبیزو تاسیساتو څارنه او د ۲۸۰ میگاواټه په تولیز ظرفیت د ٦ پروژو د مطالعې او امکان سنجونې د چارو تر سره کول؛ په روان کال کې د وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي.#

# په تېر کال کې د هېواد په کچه، څلور زره تشویقي، مناسبتي او رسمي سیالۍ ترسره شوي دي

د المپیک کمېټې، بدني روزنې او سپورټ عمومي ریاست مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغه ریاست د یو کلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

د المپیک کمېټې، بدني روزنې او سپورټ عمومي ریاست مسئولینو په یاد خبري کنفرانس کې وویل: په تېر کال کې د هېواد په کچه، څلور زره تشویقي، مناسبتي او رسمي سیالۍ ترسره شوي دي.

مسئولینو زیاته کړه، چې د تېر یوه کال په ترڅ کې د هېواد ورزشکارانو په ۹۸ بهرنیو سیالیو کې برخه اخیستې او د سرو زرو ۲۲، د سپینو زرو ۳۰ او د برونزو ۴۰ مډالونو په ګډون یې ټول ۹۲ مډالونه ګټلي دي.

مسئولینو، د المپیک په اسیایي سیالیو کې د ۵ مډالونو ګټل، نړیوال جام ته د فوټسال ملي لوبډلې لار موندل، د کافا په سیالیو کې د افغانستان د فوټبال د ۱۷ کلنو ملي لوبډلې اتلولي او په G2 سیالیو کې د تکواندو ملي لوبډلې قهرماني؛ په تېر کال کې د دې ریاست د مهمو لاسته راوړنو په توګه یاد کړل.

د مسئولینو په خبره، دغه ریاست په تېر یوه کال کې د والیبال د درېیم، د وزلوبې لیګ پنځم، د فوټبال او فوټسال لیګونو د درېیم او د غورسي لیګ دویم پړاو سیالیو په تر سره کولو سره، د سپورټ د ودې او پیاوړتیا په برخه کې مهم ګامونه پورته کړي دي.

مسئولینو د خپلو خبرو په دوام وویل، افغان ورزشکارانو د اورا اسیا سیالیو په څوارلسم پړاو کې پخپل ګډون سره، دویم مقام خپل کړی دی. په یادو سیالیو کې د ۱۲ اسیایي هېوادونو ورزشکارانو برخه اخیستې وه، چې افغان ورزشکارانو پکې د سرو زرو ۹، د سپینو زرو ۴ او د برونزو ۵ مډالونه وګټل او ښه وځلېدل.

د المپیک کمېټې، بدني روزنې او سپورټ عمومي ریاست مسئولین زیاتوي، چې په تېر یوه کال کې په ۳۵ فدراسیونونو کې ۱۹۱ لوبې څارل شوي او ۴۵۰ ورزشکارانو ته د روزنیزو سمینارونو جوړولو ترڅنګ، اړینې سپارښتنې هم شوي دي.

د مسئولینو د معلوماتو پر بنسټ، د ورزشي جوړښتونو پیاوړتیا، په بهرنیو سیالیو کې د افغان لوبغاړو د ګډون زمینه برابرول، په هېواد کې د سیالیو په لار اچول، د پوهنې وزارت او کابل ښاروالۍ سره د همکارۍ د تفاهم لیک لاسلیکول،

د ظرفیت لوړونې پروګرامونو جوړول او د هېواد د رسنیو له لارې د سیالیو خپرول؛ په روان کال کې د دغه ریاست له مهمو لومړیتوبونو څخه دي.

# کابل ښاروالۍ د خپلو یو کلنو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ

د کابل ښاروالۍ مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د خپلو یوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

د کابل ښاروالۍ مسئولینو په دې خبري کنفرانس کې وویل: په تېر کال کې په ټولیز ډول ۱۲۵,۸۷ کیلومتره عمومي او فرعي سړکونه، سفالت، کانکرېټ او په تېږو فرش شوي دي. د ۷۳۸۵۲ مربع متر په مساحت سړکونه د سفالټ په شکل ترمیم او د ۳۸۸۷۲ مربع متر په مساحت د نورو سړکونه داغګیري شوې ده.

مسئولینو زیاته کړه، د ۲۵۰۰ مترو په اوږدوالي د کانال ساختمان او جبارخان سړک، د ۲۷۳ مترو په اوږدوالي د څرخي پله د تلاشي سیمې د کانال ساختمان، د ۵۱۱ مترو په اوږدوالي د خیرخانې درېیمې برخې د کانال ساختمان او د ۱۲۹۷ مترو په اوږدوالي د امنیت ښارګوټي د کانال ساختمان د لوېدیځې برخې چارې بشپړې شوي او د ۲۱۹۴ مترو په اوږدوالي د هوایي ډګر له څلورلارې څخه تر ګمرک پورې د کانال ساختمان جوړولو د چارو دوام؛ په تېر یوه کال کې د کابل ښاروالۍ له فعالیتونو څخه دي.

په همدې ډول، اتلسمه ناحیه کې د تعمیر ساختمان او د برېښنا برج، د ۱۷مې ناحیې د احاطې ساختمان او د کابل ښاروالۍ مربوطاتو کې د تیلو پمپ سټیشن ساختمان جوړول، همدارنګه په اتمه ناحیه کې د ښځو مارکیټ د ساختمان، له قصبې نه تر پنجصد فامیلیو پورې د زېرزمیني دکانونو ساختمان او د کابل ښاروالۍ مربوطاتو کې د ګرین هاوس او ګدامونو د ساختمان جوړولو چارو بشپړېدل، دغه راز د کابل ښار بېلابېلو ناحیو کې د څاګانو کیندل؛ د تېر کال پر مهال د کابل ښاروالۍ نور فعالیتونه دي.

د مسئولینو په وینا، د اتمې او دولسمې ناحیې د ساختمانونو، د سنګ نوشتې فابریکې د تاسیساتو او د تره خیلو فابریکې د مسجد او تاسیساتو ترمیم، په تېر کال کې د کابل ښاروالۍ د کړنو یوه برخه ده. همدارنګه د سړک غاړو د ۵ زره څراغونو نصب او فعالول، د کابل ښار بېلابېلو ناحیو کې د ۹۷۰۰ تنویر پایو ترمیم، د ٦ څلورلارو ښکلي کول، د ښار په ۲۲ ناحیو کې د ادرس موندلو لوحو لګول، د عمومي او فرعي جادو رنګول او د کابل ښار له بېلابېلو برخو څخه د ۲۰٦۸ موانعو راټولول؛ په تېر کال کې د کابل ښاروالۍ له نورو اجرااتو څخه دي.

په تېر کال کې د UNOPS په همکارۍ، د کوڅو او کانالونو د احداث او کانکرېټ اچولو او پارکونو د شنه کولو، ۲۰۰ پروژې تر پلان لاندې وې. همدارنګه د کابل ښار له ۲۲ ناحیو څخه ۵۲٦۰۸۰ ټنه کثافات د نظر وړ سیمو ته لېږدول شوي او د ۵۷۵٦۵ مترو په اوږدوالي عمومي کانالونه او ۴۰۵۰۴۴ متره د سړک غاړې ویالې هم پاکې شوي دي.

مسئولینو د خپلو خبرو په دوام وویل: په تېر یوه کال کې په تولیز ډول د نباتي بوټو ۲ میلیونه ډوله تولید، تکثیر او کېښودل شوي، شته پارکونه او نوي جوړ شوي پارکونه شنه شوي او په څرخي پله کې د مرنجان تپې، رحمان مېنې، کازینو او د قبال جومات شمال کې د پارکونو پر جوړولو کار روان دی.

مسئولین زیاتوي، چې له لاس پلورونکو او کراچیو څخه د کابل ښار د بېلابېلو ناحیو د مزدحمو ساحو پاکول، د سرغړونو له امله د ۲۶۲۶ اصنافو فعالیت په موقتي توگه ځنډول، د ۱۰۵۷ بې جوازه اصنافو پېژندنه، د کابل ښار په ۲۲ ناحیو کې ۱۱۹۵۷ اصنافو ته د جوازونو ورکړه، د ۱۰۲ مارکېټونو او ۱۱ پمپ ستېشنونو ثبتول او د ژمي په موسم کې کابل ښاریانو ته د ډبرو سکرو وېش؛ د کابل ښاروالۍ له لاسته راوړنو څخه دي.

د مسئولینو په خبره، د فلټرونو نشتون له امله د ۶۲۵ لوړ پوړیزه ودانیو بندول، د ۲۰۵۵۷۷ کیلو گرامه تاریخ تېرو خوراکي او بې کیفیته مینځونکو توکو راټولول، د کابل سیند ته د ۸۲۵ لوړ پوړیزه ودانیو او استوگنې کورونو د فاضله اوبو د جریان بندول او اصنافو ته د ۸۸۷۲ صحي کارتونو وېش؛ د چاپېریال ساتنې برخه کې د کابل ښاروالۍ فعالیتونه دي.

د مسئولینو د معلوماتو له مخې، د تفصیلي پلانونو طرحه، د سوداگریزو او استوگنیزو ساحو لپاره پیشنهادي طرحې، ساختمانونو ته د ۲۴۸ جوازونو او ۲۲ نقشو ورکړه او د ۵۵۳ نورو نقشو ویزه کول او د کابل ښار په ۲۲ ناحیو کې د ۳۰۹۵ ودانیو له سرغړونو مخنیوی؛ په تېر کال کې د کابل ښاروالۍ عمده لاسته راوړنې دي.

# د افغاني سرې میاشتې د خپلو یو کلنو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ

د افغاني سرې میاشتې مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغې ټولنې د یوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

د افغاني سرې میاشتې ټولنې مسئولینو په یاد خبري کنفرانس کې وویل: په تېر کال کې د طبیعي پېښو ۱ میلیون ۴۳۰ زره او ۳۶ زیانمنو او اړمنو کسانو سره، نغدي، د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرسته شوې، چې اوړه، غوړي، لوبیا، وریژې، بوره، مالګه، چای، مکروني، بیسکویت، نخود، خیمې، ترپالونه او ظروف په دې مرستو کې شامل وو او پر مستحقو کسانو وېشل شوي دي.

چارواکي زیاتوي، چې دغې ادارې په بغلان ولایت کې د وروستیو سیلابونو له ۲۲۷۳۵ قربانیانو سره بشري مرستې کړې دي.

مسئولینو زیاته کړه، د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول د دغه بنسټ له مهمو لومړیتونو څخه دي، چې د ۴۶ ثابتو روغتونونو، ۳۶ فرعي کلینیکونو، ۶۵ بېړنیو روغتیایي ټیمونو، ۳۶ ګرځنده روغتیایي ټیمونو او د کتلوي معافیت د ۴۵ روغتیایي کمپونو له لارې هېوادوالو ته روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي. همدارنګه په تېر کال کې د سوري زړه په ناروغۍ اخته د ۲۲۱۲ ماشومان په ګډون، ۵ میلیونه ۸۹۴ زره او ۳۳۲ تنه له روغتیایي خدمتونو څخه مستفید شوي دي.

د مسئولینو په وینا، دغه بنسټ په کابل، بلخ، کندهار، ننګرهار او هرات ولایتونو کې د پنځه مرستونونو له لارې، د ۱۴۹۵ بې سرپرسته وګړو پالنه کړې او په تېر کال کې د یادو مرستونونو له لارې، ۸۱۱۰ کونډو د خیاطۍ، ګلدوزۍ، غالۍ اوبدلو او لاسي صنایعو په برخه کې مسلکي زده کړې ترلاسه کړي دي.

په همدې ډول، د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د فرمان له مخې، ۱۱۶ زره او ۲۵۹ سوالګر راټول شوي، چې له دې ډلې ۳۰ زره او ۵۴۳ تنه مستحق پیژندل شوي او په میاشتني ډول له دې بنسټ څخه نغدي مرستې ترلاسه کوي، چې په تېر کال کې په ټولیز ډول ۵۳ میلیونه ۸۷۵ زره او ۸۱۲ افغانۍ سوالګرو ته ورکړل شوي دي.

مسئولین وایي، چې د وروستي یوه کال پر مهال، په هېواد کې له ۲۴ زره بې سرپرسته کورنیو سره هم، ۲۰۴ میلیونه افغانۍ مرسته شوې ده.

په همدې ډول، د تېر یوه کال په ترځ کې د هېواد په شمال ختیځ زون کې یو مرستون جوړ شوی او د بامیان، بغلان، میدان وردگ، لغمان، کاپیسا، پروان، سمنگان، سرپل او جوزجان ولایتونو په نمایندگیو کې د ۴,۵ میلیونه افغانیو په ارزښت، د لمریزې برېښنا سیستم نصب او گټې اخیستل ته سپارل شوی دی.

مسئولینو د خپلو خبرو په دوام وویل: د تېر کال په اوږدو کې ۳ زره او ٦۴۹ تنو د دې بنسټ غړیتوب ترلاسه کړی او په یاده موده کې داوطلبانو او د دې بنسټ کارکوونکو ته بېلابېل روزنیز ورکشاپونه هم جوړ شوي دي.

د مسئولینو د معلوماتو له مخې، په وروستي یوه کال کې د دې بنسټ په ۳۵ ښوونیزو مرکزونو کې ۵۴ زره او ۸۷۹ هلکانو او نجونو ته د دیني او کمپیوټر زده کړو زمینه برابره شوې ده. دغه راز، ۱۹ تنه د درملنې لپاره جرمني ته استول شوي، چې د درملنې مودې له بشپړولو وروسته به بېرته هېواد ته راستانه شي.

# سترې محکمې د خپلو یو کلنو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ

د سترې محکمې مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغې محکمې د یوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

د سترې محکمې مسئولینو په یاد خبري کنفرانس کې وویل: د عالیقدر امیرالمومنین (حفظه الله) د حکم له مخې، د نېکمرغه کوچني او لوی اختر په مناسبت ۲۳۰۴ تنه بندیان ازاد شوي او ۱۹۲۰ تنه نور د اړوندو مراجعو له لوري له تخفیف څخه برخمن شوي دي.

مسئولینو زیاته کړه، چې په تېر یوه کال کې په مجموعي توګه ۱۸۵ زره او ۵۹۱ دوسیې حل او فصل شوي دي.

د سترې محکمې د مسئولینو په وینا، په تېر کال کې په ټولیز ډول ۲۵۰ زره او ۷۶۲ حقوقي او جزایي قضیې په ابتدائیه، مرافعه او تمیز محکمو کې په دوران کې وې، چې له دې جملې څخه ۲۰۳ زره او ۴۷۸ قضیو ته په ابتدائیه، ۳۴۷۶۲ قضیو ته په مرافعه او ۷۸۹۲ قضیو ته په تمیز محکمو کې رسېدنه شوې او پاتې نورې تر کار لاندې دي.

مسئولین زیاتوي، چې د یادو قضیو له جملې څخه، د نشه یي توکو اړوند ۸۰۰۵ او د ښځو د شرعي حقونو اړوند ۳۳۷۳ قضیو ته هم رسېدنه شوې ده.

د مسئولینو په وینا، سترې محکمې په وروستي یوه کال کې ۱۷۹ زره او ۸۱۸ وثیقې اجراء او په ډېټابېس کې ثبت کړي دي.

مسئولینو د خپلو خبرو په دوام وویل، چې په تېر کال کې د کابینې ۳۳۵ مصوبات او د عالیقدر امیرالمومنین (حفظه الله) احکام او فرمانونه سترې محکمې ته رسیدلي، چې په اړه یې اصولي اجراآت تر سره شوي دي.

په همدې ډول، په تېر کال کې د سترې محکمې عالي شورا، ۳۸ ناستې کړي، چې په دې ناستو کې د ۱۹۱ مهمو موضوعاتو په تړاو اړینې پرېکړې تر سره شوي دي.

د سترې محکمې مسئولینو د معلوماتو له مخې، د دې ادارې د تفتیش لوی ریاست موظف پلاوي، ۵۳۳ موضوعات له نافذه اصولو او مقرراتو سره سم تفتیش کړي دي. سربېره پر دې، ټاکل شوي پلاوي په وروستي یوه کال کې ټولو ولایتونو ته سفرونه کړي، د مرافعه، ښاري او ولسوالیو د ابدائیه او نورو محکمو د تفتیش تر څنګ یې له زندانونو هم لیدنه کړې او د زندانیانو د وضعیت ارزونه یې تر سره کړې ده.#

# د امارتي شرکتونو لوی ریاست د خپلو یو کلنو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ

د امارتي شرکتونو لوی ریاست مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغه ریاست د یوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

د امارتي شرکتونو لوی ریاست مسئولینو په یاد کنفرانس کې وویل: دولتي شرکتونه ځو لسیزې وړاندې په افغانستان کې د کرنې او صنعت د پراختیا، د احتکار د مخنیوي، د کاري فرصتونو رامنځته کولو او د ملي اقتصاد د پیاوړتیا په موخه رامنځته شوي، خو په هېواد کې د څلور لسیزو جګړو له امله پخوانیو نظامونو دا شرکتونه له پامه غورځولي او په دې موده کې یې ډېر زیانونه لیدلي دي.

مسئولینو زیاته کړه، د اسلامي امارت په بیا واکمنېدو او د امارتي شرکتونو اقتصادي اهمیت ته په کتو، دغه شرکتونه یو ځل بیا د حکومت د توجه وړ وګرځېدل، چې د چارو د لا ښه مدیریت، پراختیا او پیاوړتیا په موخه، د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د ۱۴۴۵/۶/۲۷ نېټې د ۲۱ ګڼې فرمان پر بنسټ، د امارتي شرکتونو عمومي ریاست تاسیس او ۱۴۴۶/۲/۲۲ نېټې د ۸ ګڼې فرمان له مخې، د یاد ریاست تشکیل هم منظور شو.

مسئولینو وویل: د افغان طیور، د بغلان د بورې، د کندهار، بلخ او پلخمري د نساجۍ او د هلمند بُست امارتي شرکتونو بیا فعالول او تجهیز؛ په تېر یوه کال کې د یاد ریاست له مهمو لاسته راوړنو څخه دي. دغه راز تړاکل شوې ده، چې له نړیوال بانک سره په همغږۍ د کاسا ۱۰۰۰ پروژې عملي چارې ژر پیل شي.

د مسئولینو په خبره، د افغانستان برېښنا شرکت په تېر یوه کال کې په تولیز ډول ۱ میلیون ۲۰۶ زره او ۶۷۱ میګاواټه برېښنا تولید کړې او ۵ میلیونه ۶۷۲ زره او ۷۹۶ مېګاواټه برېښنا یې له ګاونډیو هېوادونو څخه وارده کړې ده. همدا راز د شبرغان- دشت الوان- ارغندۍ د ۵۰۰ کیلو ولټه او د غزني- کندهار د ۲۲۰ کیلو ولټه برېښنا لېږد مزو، د هرات د نور الجهاد سب سټېشن، د کندهار د برېښنا سب سټېشن او د یو شمېر ناتمامو پروژو د تطبیق چارې جریان لري، چې په نېږدې راتلونکي کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

مسئولینو د خپلو خبرو په دوام وویل: د قوش تېپې کانال د لومړي فاز چارې په ۹۱ سلنه او د دویم فاز چارې په ۵۴ سلنه پرمختګ سره دوام لري. دغه راز، د بلخاب کان د استخراج چارې روانې دي او تر اوسه ۲۸۹۸۰ ټنه د ډبرو سکاره استخراج شوي دي.

په همدې ډول، په تېر یوه  کال کې، د غوري او جبل السراج د سمنټو فابریکو له لارې ۱۹۹ زره او ٦٧١ ټنه سمنټ تولید شوي دي. د دې ترڅنګ د شاوخوا ۱۵۰۰ کیلومتره په اوږدوالي د نوري فایبر  پروژې د تطبیق کار روان دی او د نوري فایبر شبکه ۸۰ سلنه معیاري شوې ده.

مسئولین زیاتوي، چې په مرکز او ولایتونو کې د ګاز د پلور او وېش ۸۵ مغازې فعالې شوي، چې په بازار کې یې د ګازو قیمت په کنترول کې مهم رول لوبولی دی. همدارنګه، په تېر یوه کال کې ۱۹۸ میلیونه ٦۱۴ زره او ۲۸۷ متر مکعب ګاز استخراج، پروسس او مستهلکینو ته عرضه شوی دی.

دغه راز، د تېر یوه کال پر مهال په مرکز او ولایتونو کې ۳٦ میلیونه متر مکعب د څښاک پاکې اوبه وېشل شوي، د اوبو رسولو ۳۹ پروژې تطبیق، ۹ ډیزاین او ۱۵ نورې په پلان کې شاملې شوي دي.

د مسئولینو په وینا، په تېر کال کې د ننګرهار د وادي کرنیزې تصدۍ له لارې شاوخوا ۴۰۲ ټنه زیتون، ۴۱۱۲۵ لېتره د زیتون تېل، ۲۰ ټنه خرما، ۹۰۷ ټنه غنم، ۱۰ ټنه کبان، ۱۰۲٦۴۳ لېتره شیدې، ۲۸۷۴ کلچې صابون او ۲۳۴۳۳۸ دانې مثمر او غیر مثمر نیالګي تولید شوي دي.

مسئولین وایي، چې د څه باندې ۳۰ بیه لرونکو او بې بیې سندونو ډیزاین او چاپ، ترکیبي هېواد ته د ۹۰ ټنه رومي بانجانو او کشتې صادرول، د غنمو د ۴۴۳۰ ټنه اصلاح شویو تخمونو، ۱۳,۷ ټنه وریژو، ۱۹,۸ ټنه جوارو او غَلو، ۴۷۹۹۰ کیلو ګرامه صنعتي نباتاتو تخم، ۳۴۰۰ کیلو ګرامه حبوباتو او ۳۱۳۰۰ کیلو ګرامه سبزیجاتو تولید؛ په تېر یوه کال کې د یاد ریاست له مهمو فعالیتونو څخه دي.

د مسئولینو د معلوماتو له مخې، د ۵۰۳ سیاحتي او ۱۷۷ انلاین خدماتو شرکتونو او ۴۷ مېلمستونونو د فعالیت جوازونو صدور او تمدید، د ۱۲ میلیونه افغانیو په ارزښت، د ډبرو پروسس لپاره د عصري ماشینونو اخیستل او نصبول او په هېواد کې د سپین کاغذ د تولید صنعت وده؛ په تېر یوه کال کې د دې ریاست له نورو اجرااتو څخه دي.

همدارنګه، د قېمتي او نیمه قېمتي ډبرو او بابو البسې او چرم د تولید بیا پیل، بهر ته د شاوخوا ۵۳۱۴ قلمه بیلابیلو اجناسو صادرول، د هیواد د لاسي صنایعو پیاوړتیا لپاره د ۲۷ کورنیو او بهرنیو نندارتونونو جوړولو برخه کې همکاري او کسبه کارانو ته د مسلکي ورکشاپونو جوړول؛ د دې ریاست له نورو فعالیتونو څخه دي.

# د افغانستان بانک د خپلو یو کلنو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ

د افغانستان بانک مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغه بانک د یوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

افغانستان بانک مسئولینو په یاد کنفرانس کې وویل: د افغانستان د پولي او اسعارو سیاست طرحه او تطبیق، د هېواد اسعارو د رسمي زېرمو ساتنه او اداره کول، د کاغذي پیسو او فلزي مسکوکاتو چاپول، ضربول او خپرول، بانکونو او غیر بانکي مالي موسسو ته د جوازونو صادرول، د بانکي قوانینو او مقرراتو پلي کول او د هېواد مالي او بانکي سیستم مدیریت، پراختیا او پیاوړتیا؛ د دغه بانک له مهمو لومړیتوبونو څخه دي.

مسئولینو زیاته کړه، په تېر کال کې د اغېزناکه پولي سیاستونو د پلي کېدو له لارې د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت ساتل شوی او ټاکل شویو موخو ته د رسېدو ترڅنګ، د انفلاسیون د کنټرول برخه کې هم اغېزناک ګامونه اوچت شوي دي. همدارنګه، د افغانستان بانک د پرله پسې هڅو په پایله کې د ډالر پر وړاندې د افغانۍ ارزښت ۱۷،۲۵ سلنه لوړ شوی دی.

د مسئولینو په وینا، د افغانیو او ډالرو په بانکي حسابونو باندې لګول شوي محدودیتونه کم شوي او اوسمهال مشتریان کولی چې د افغانیو له حساب څخه، په اونۍ کې د ۷۰ زره افغانیو پر ځای ۱۵۰ زره افغانۍ او په میاشت کې د ۲۵۰ زره افغانیو پر ځای ۵۰۰ زره افغانۍ، همدارنګه له ډالري حساب څخه په اونۍ کې د ۱۰۰۰ ډالرو پر ځای ۲۰۰۰ زره ډالر او په میاشت کې د ۳۰۰۰ ډالرو پر ځای ۶۰۰۰ ډالر واخلي.

په همدې ډول، د افغانستان بانک په تېر کال کې له مرکز او ولایتونو څخه، د ۷ میلیارده ۱۸۶ میلیونه او ۵۴۴ زره افغانیو په ارزښت، زاړه بانکنوټونه راټول او سوځولي او د راکړې ورکړې برخه کې د ستونزو د حل په موخه یې نوي بانکنوټونه بازار ته وړاندې کړي دي. دغه راز، د پولي خدمتونو وړاندې کوونکو او صرافیو د میکانیزه کولو قانون، د افغانستان د اسلامي امارت د زعیم عالیقدر امیر المؤمنین (حفظه الله) لخوا توشیح شو، چې د دې قانون په رڼا کې د غیر بانکي مالي موسسو د فعالیتونو د تنظیم، معیاري او میکانیزه کولو برخه کې مهم ګامونه پورته شوي دي.

د افغانستان بانک چارواکو د خپلو خبرو په دوام وویل: په تېر کال کې صرافیو او د پیسو خدمتونو وړاندې کوونکو شرکتونو ته ۱۴۹ جوازونه صادر شوي، چې له دې سره د صادر شویو جوازونو ټولیز شمېر ۱۷۸۰ ته رسیږي. همدا راز له الکترونیکي پیسو څخه د ګټې اخیستنې ملي ستراتېژي تدوین شوې، د الکترونیکي پیسو ۵ موسسو د فعالیت

جوازونه ترلاسه کړي او په پلورنځیو، رستورانتونو، روغتونونو او دولتي او خصوصي ادارو کې ۱۲۵۸ کارت لوستونکې دستګاوې (POS) نصب شوي دي.

د مسئولینو په وینا، په مطلوب حد کې د انفلاسیون د نرخ ساتلو پر افغانیو باور زیات کړی او د افغانستان د اقتصادي وضعیت د ښه کېدو سبب شوی. دا حالت دا په ډاګه کوي چې مرکزي بانک د هېواد د اقتصادي بدلونونو په اداره کولو کې مهم او اړین رول لوبوي.

د افغانستان بانک د هېواد پر بانکي سیستم د یوه ناظر بنسټ په توګه، د بانکونو د فعالیتونو او مالي سلامت څارنې، د بانکي قوانینو او مقرراتو چمتو کولو، د بانکونو مالي حالت او نقدینګۍ ارزونې، د ضعف ټکو له منځه وړلو او د بانکي سیستم د ثبات او خوندیتوب برخه کې پرله پسې هڅې کړي دي.

مسئولین زیاتوي، چې په تېر کال کې ۵ تعقیبي، ۲ موخه‌ییزې او ۱۲ غیر مترقبه بررسۍ، د پیسو مینځلو او له جرایمو څخه ترلاسه شویو عواید سره د مبارزې په موخه ۲۰ بررسۍ او د سوداګریزو بانکونو په اړه ۱۲۴ ارزونې او تحلیلونه تر سره شوي دي. د دې ترڅنګ، د صرافیو او پولي خدماتو له ۳۷۷ شرکتونو څارنه شوې، د الکترونیکي پیسو د موسسو په اړه ۸ داخلي او ٦ خارجي څارنې تر سره شوي او په مرکزي بانک کې ۷۰۰ سیستمونه ثبت او څېړل شوي دي.

د مسئولینو د معلوماتو پر بنسټ، د افغانستان بانک په تیر یو کال کې د انفرادي حسابونوپرانیستلو، د لومړنیو زېرمو، د غیر فعاله حسابونو د فعالولو او د شرکتونو او انفرادي حسابونو د کلني فیس برخه کې اړینې اسانتیاوې برابرې کړي دي.

# د افغانستان د علومو اکاډمۍ د خپلو یو کلنو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ

د افغانستان د علومو اکاډمۍ مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغې اکاډمۍ د یوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

د علومو اکاډمۍ مسئولینو په یاد خبري کنفرانس کې وویل: په تېر کال کې د علمي څېړنو ۳۷ پروژې بشپړې شوي او ۲۰۸ نورې تر کار لاندې دي. همدارنګه، د دې ادارې لخوا د هېواد په کچه، په بېلابېلو برخو کې ۵۷ کنفرانسونه او ٦ علمي -څېړنیز سیمینارونه هم جوړ شوي دي.

مسئولینو زیاته کړه، چې په تېر یوه کال کې ۳۴ کتابونه چاپ او ۲۵ نور ژباړل شوي او د څېړونکو او لیکوالانو لپاره لازمې اسانتیاوې برابرې او د ادارې په کتابتون کې ۱۸۵۰۰ کتابونه هم ور زیات شوي دي.

په همدې ډول، د تېر کال په اوږدو کې د دې ادارې ۴ تنه علمي غړي د ماسټرۍ او دوکتورا له پروګرامونو څخه فارغ او ۲۰ تنه نور د لېسانس، ماسټرۍ او دوکتورا په پروګرامونو کې د ګډون په موخه، کورنیو او بهرنیو پوهنتونونو ته ور پېژندل شوي دي.

د مسئولینو په وینا، د علومو اکاډمۍ شپږکلن ستراتېژیک پلان چمتو شوی او د اسلامي بانکدارۍ په اړه، رهنمودي اسناد هم بشپړ شوي دي. د دې ترڅنګ، په تېر کال کې د همغږۍ پیاوړتیا، له علمي ـ تحقیقي برخو څخه د لیدنې او له اړوند برخو سره د همکارۍ تفاهم لیکونو د لاسلیک په موخه، د علومو اکاډمۍ مشرتابه پلاوي، د روسیې، ایران، متحده عربي اماراتو، جاپان او چین هېوادونو ته سفرونه کړي دي.

مسئولین زیاتوي، چې د علمي همکاریو د کچې لوړولو په موخه، له اوو دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره د همکارۍ تفاهم لیکونه لاسلیک شوي دي.

د مسئولینو د معلوماتو له مخې، د ورځنیو چارو د لا ښه انسجام او تنظیم په موخه، د علومو اکاډمۍ تقنیني اسناد چمتو شوي او ډېر ژر به د بیا کتنې په موخه اړوندو مراجعو ته واستول شي.#

# د ستنډرډ ملي ادارې د خپلو یو کلنو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ

د ستنډرډ ملي ادارې مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغې ادارې د یوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

د ستنډرډ ملي ادارې مسئولینو په یاد کنفرانس کې وویل: د کلتوري، اقتصادي، چاپېریالي، ځمکې، اقلیم او جغرافیایي موضوعاتو په اړه، ۸۰۵ ستنډرډونه او همدارنګه د ښاري پراختیا، مهندسۍ او د ودانیو، پلونو، لویو لارو او سړکونو د ډیزاین برخه کې ٦ کودونه، تدوین شوي دي.

مسئولینو زیاته کړه، د ۱۰۵ ستنډرډونو د ترتیب په اړه له سیمه ییزو او نړیوالو سازمانونو سره همغږي کول، په بېلابېلو برخو کې د ۹۱ ستنډرډونو وروستي کول او د ۴۹۳۲ نقلیه وسایطو لپاره د نورمونو ټاکل؛ په تیر کال کې د دې ادارې له مهمو اقداماتو څخه دي.

د مسئولینو په خبره، د ستنډرډ عالي شورا د تاسیس راهیسې، د کیفیت د مدیریت سیستم ، کرنیزو ، خوراکي، ساختماني او نفتي محصولاتو، نساجۍ او چرم ، کیمیا او پلاستیک مشتقاتو برخه کې ۲۴ ستنډرډونه تصویب شوي دي.

مسئولینو د خپلو خبرو په دوام وویل: په تېر کال کې ۳ میلیونه ۷۸۷ زره او ۴۱۵ ټنه نفتي مواد، اوبلن ګاز او مشتقات یې د بندرونو له لارې هېواد ته داخل شوي چې له دې جملې څخه ۱۲۸ زره او ۸۱۱ ټنه یې بې کیفیته تثبیت شوي دي.

په همدې ډول، تېر کال کې د هېواد له بندرونو څخه ۷ میلیونه ۳۸۰ زره او ۵۷۲ ټنه ساختماني توکي وارد شوي چې له دې ډلې ۱۵۲ ټنه یې بې کیفیته تثبیت شوي دي.

همدا راز مسئولین زیاتوي، چې د ستنډرډ ملي اداره اوسمهال د ISO، IEC، SMIIC، SARSO او ECO RESCOM په څېر د نړیوالو سازمانونو غړیتوب لري.

د مسئولینو د معلوماتو له مخې، د تېر کال په اوږدو کې د فعالیتونو د ښه تنظیم په موخه، د ۷ طرزالعملونو او ۲ مقررو مسوده چمتو شوې او ډېر ژر به نهایي شي.

په بېلابېلو برخو کې د ۱۱۰ ستنډرډونو ترتیبول، د ستنډرډونو د ترتیب په موخه له نړیوالو سازمانونو سره د همغږۍ زیاتول، له ترکمنستان، ایران او اوزبیکستان هېوادونو سره د همکارۍ تفاهم لیکونه لاسلیکول، د کیفیت د تصدیق پاڼو

ورکول، د ادارې د تقنيني سندونو د مسودې وروستي کول، د سټنډرډونو له تطبيق څخه څارنه، د سټنډرډ قانون او میټرولوژي قانون وروستي کول؛ په روان کال کې د دې ادارې مهم لومړيتوبونه دي.#

# د ازموینو ملي ادارې د خپلو یو کلنو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ

د ازموینو ملي ادارې مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغې ادارې د یوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

د ازموینو ملي ادارې مسئولینو په دې خبري کنفرانس کې وویل: تېر کال کې د تخنیکي او اداري پروسو د معیاري کولو، د کانکور ازموینو د جامع سیستم جوړولو، د ستراتېژیک پلان چمتو کولو، د افغانستان د ازموینو قانون مسودې د ترتیب او همدا راز د ۱۰ طرزالعملونو او ۲ مادو د تطبیق په برخه کې مهم ګامونه پورته شوي دي.

مسئولینو زیاته کړه: په ۱۴۰۳ کال کې د کانکور ازموینې لپاره ۹۷۹۱۷ د ګډون کارتونه چاپ شوي، د ازموینې پوښتنې په څلور ژبو (پښتو، دري، انګلیسي او عربي) چمتو شوي او د ازموینې وخت له ۱۶۰ دقیقو څخه، ۴ ساعتونو ته زیات شوی دی. دغه راز، د لومړي ځل لپاره د دې ادارې دویمي واحدونه په کندهار، هرات، بلخ، بامیان، کندز، پکتیا او ننګرهار زونونو کې رامنځته شوي دي.

مسئولینو د خپلو خبرو په دوام وویل، چې له پوهنې وزارت سره د شاوخوا ۴۰ زره ښوونکو د ازموینې اخیستو په موخه، د همکارۍ تفاهم لیکونه لیک لاسلیک شوي دي.

په تېر کال کې له ۱۷۷۰۲۰ کسانو ازموینه اخیستل شوې او ۸۷۱۰۳ بریالي کسان بېلابېلو ادارو ته ورپېژندل شوي دي. په همدې ډول، د بېلابېلو ادارو ۵۸ ډله ییزې ازموینې په پوره شفافیت سره اخیستل شوي او پایلې یې هم اعلان شوي دي.

د ازموینو ملي ادارې مسئولینو زیاته کړه، په تېر کال کې د ۱۴۰۳ کال د عمومي کانکور، متفرقه، اختصاصي، دیني، د ماسترۍ پروګرامونو، د علمي کچې تثبیت، مالیې وزارت، طبي شورا، عامې روغتیا وزارت، د امر بالمعروف او نهې عن المنکر وزارت، نظامي اکاډمیو او د نورو ادارو د ازموینو لپاره، شاوخوا (۲۰۰) زره د نوم لیکنې فورمې توزیع شوي او له راټولولو وروسته، د ادارې په سیستم کې ثبت شوي دي.

د مسئولینو په وینا، د ۱۴۰۴ کال کانکور لپاره د اړینو تدابیرو نیول، د افغانستان د ازموینو قانون مسودې نهایي کول، د ادارو د ډله ییزو ازموینو اخیستل، د سیستمونو پراختیا، د اوو زونونو په کچه د ادارې د دویمي واحدونو تجهیز او د تخنیکي او اداري سیستمونو معیاري کول، په روان کال کې د ادارې له مهمو لومړیتوبونو څخه دي.#

# د چاپېریال ساتنې اداره: په عامه او خصوصي سکتور کې د ۱۵۲۰ فعالیتونو او بېلابېلو پروژو د چاپېریالي او ټولنیزو اغېزو ارزونه شوې ده

د چاپېریال ساتنې ملي ادارې مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د دې ادارې د یوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

د چاپېریال ساتنې ملي ادارې مسؤلینو په دې خبري کنفرانس کې وویل: په تېر کال کې په عامه او خصوصي سکتور کې د ۱۵۲۰ فعالیتونو او بېلابېلو پروژو د چاپېریالي او ټولنیزو اغېزو ارزونه شوې، چې له جملې یې ۱۴۹۸ پروژې او فعالیتونه تایید او چاپېریالي اجازه لیک یې ترلاسه کړی او پاتې ۲۲ پروژې او فعالیتونه د چاپېریالي معیارونو د نه مراعتولو له امله رد شوي دي. همدارنګه د چاپېریال ساتنې او اقلیمي بدلون برخه کې د ۵۸,۷ میلیون ډالرو په ټولیز ارزښت، د ۱۰ څنډېدلیو پروژو د چارو پیلولو برخه کې هم د پام وړ پرمختګونه شوي دي.

د چاپېریال ساتنې ادارې مسئولینو زیاته کړه، له اقلیمي بدلون سره د سازګاره ابرېزو او اوبو سرچینو د پروژې، د کاربن د کمو او مناسبو طریقو د پیاوړتیا، د چاپېریالي څېړنیز فارم جوړولو، د نیالګیو کېښودلو ملي کمپاین او د اقلیمي بدلون زیانمننې د ارزونې طرحو چمتو کول، اقلیمي بدلونونو ته د ځواب ویلو پروژې لپاره د مالي سرچینو منظوري اخیستل، د ژوند بنو له جدید التأسیس صندوق څخه د ۱,۱۶ میلیونه ډالرو مالي ژمنه ترلاسه کول او د ملي پروګرامونو او طرحو په پراختیا کې برخه اخیستل؛ په تېر یوه کال کې د دې ادارې له عمده لاسته راوړنو څخه دي.

د چاپېریال ساتنې ملي ادارې مسئولینو د خپلو خبرو په دوام وویل: د موندنو په اساس، دتودوخې زیاتوالي، پرله پسې وچکالۍ، د موسمي سېلابونو راوتلو، د کرنیزو حاصلاتو کمښت، د انساني، حیواني او نباتي ناروغیو زیاتوالي، داخلي کډوالیو، د ځمکو او ځنګلونو تخریب او اقلیمي بدلون؛ ناوړه پایلې لرلې چې زمونږ د هېوادوالو ژوند یې له ننګونو سره مخ کړی دی.

د مسئولینو په وینا، د اسلامي امارت د بیاځلي واکمنېدو راهیسې، یادې ادارې په دوامداره ډول هڅه کړې، څو نړیواله ټولنه قانع کړي چې چاپېریالي او د اقلیمي بدلون موضوع له سیاست سره ربط نلري او باید د بشري او ټولنیزې ستونزې په توګه ورته وکتل شي. دغه راز، افغانستان دې د (COP-29) نړیوال کنفرانس ته، چې سږکال به په اذربایجان هېواد کې جوړ شي، په رسمي ډول ور وبلل شي، څو په ریښتیني ډول د افغانستان او زیانمنونکو افغانانو استازیتوب وکړي او د هغوی د حقونو ترلاسه کولو لپاره، د نړیوالو پام افغانستان ته راواړوي.

د بند امیر ملي پارک، د پکتیا مندهیر، د بدخشان واخان او د کول حشمت خان په ځېر د ساتل شویو ساحو له فزیکي او بیولوژیکي وضعیت څخه څارنه، د نورستان د ملي پارک د بایوفزیکي او اجتماعي سروې پیلول، د ۱۷۲۱۶ مختلف النوع مرغانو او ۲۵ وحشي حیواناتو د قاچاق مخنیوی او په بلخ او فراه ولایتونو کې د ندالشبأ او الغرافه د وحشي حیواناتو د نسلګرۍ له فارمونو څخه څارنه؛ په وروستي یوه کال کې د دې ادارې له نورو لاسته راوړنو څخه دي.

د مسئولینو د معلوماتو له مخې، د چاپېریالي ککړتیاوو کمولو او مخنیوي په موخه، په ټولیز ډول د ښارګوټو، لوړپوړېزه ودانیو، د ودونو تالارونو، فابریکو، د خښتو بټیو، رېګرېشنونو او مختلفو اصنافو له ۲۲۳۲۸ فعالیتونو څخه څارنه شوې، چې له دې جملې څخه، ۱۴۸۲۵ فعالیتونه له چاپېریالي معیارونو سره برابر پېژندل شوي، ۱۵۸۱ فعالیتونه اصلاح او د ۲۸۴۹ نورو فعالیتونو د اصلاح لپاره اړینې سپارښتنې شوي دي.

همدارنګه په تېر کال کې د څه باندې یو میلیون امریکایي ډالرو په ارزښت، د چاپېریالي پروژو د تطبیق په موخه، له غیر امارتي موسسو سره د همکارۍ پنځه تفاهم لیکونه لاسلیک او له تطبیق څخه یې څارنه شوې ده.

مسئولین زیاتوي، چې د ادارې د ٦ تقنیني او پالېسۍ سندونو بیاکتنه او تعدیل، د امارتي ادارو په ۱۳ تقنیني او پالېسۍ سندونو کې د چاپېریالي موضوعاتو شاملول، د ژوند ښو ملي ستراتېژۍ نوي کول، د پنځه کلن پراختیایي پروګرام او د مرکز او ولایتونو لپاره د ۴۷ عملیاتي پلانونو چمتو کول؛ په تېر کال کې د چاپېریال ساتنې ملي ادارې نور فعالیتونه دي.#

# د زندانونو چارو د سمون ادارې د خپلو یو کلنو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ

د زندانونو چارو د سمون ادارې مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغې ادارې د یوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

د زندانونو چارو د سمون ادارې مسئولینو په یاد کنفرانس کې وویل: په تېر کال کې د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د فرمان له مخې د روژې مبارکې میاشتې، کوچني او لوی اختر په مناسبت، ۳۲۰۰ بندیان ازاد شوي او د ۱۶۵۵ نورو په مجازاتو کې تخفیف رامنځته شوی دي.

مسئولینو زیاته کړه، چې د محکمو د مکتوبونو له مخې، ۳۲۴۳ بندیان خوشې شوي، ۳۰۱۶ بندیان له ولایتونو څخه مرکز ته، له مرکز څخه ولایتونو او له یوه ولایت څخه بل ولایت ته لېږدول شوي او د ۱۵۶۲ بندیانو د برخلیک معلومولو لپاره، له سترې محکمې سره اړینه همغږي شوې ده.

په همدې ډول، ۲۲۴۱ بندیان د دیني زده کړو له بېلابېلو برخو څخه فارغ شوي او ۶۴۰۸ تنه نور په دیني زده کړو بوخت دي. همدارنګه، ۱۹۵۴ تنه د سواد زده کړې له برخې فارغ شوي او اوسمهال ۲۳۵۰ تنه نور په زده کړو بوخت دي.

د ادارې مسئولین وایي، چې ۱۱۲۲ بندیان په حرفوي زده کړو بوخت دي او په تېر کال کې ۳۳۷ تنو په بېلابېلو څانګو کې حرفوي زده کړې بشپړې کړې دي.

مسئولینو د خپلو خبرو په دوام وویل: په وروستي یوه کال کې د ادارې د ۱۴۰۳ کال تفصیلي پلان، پالېسي او ستراتېژیک پلان نهایي شوي او د مالي ملاتړ، د بندیانو درملنې، اعاشې، حرفوي زده کړو او د بېلابېلو څانګو د تجهیز په موخه، له یو شمېر بنسټونو سره، د همکارۍ تفاهم لیکونه هم لاسلیک شوي دي.

د مسئولینو په وینا، د زندانونو پولیسو د مسلکي کولو او ظرفیت لوړونې په موخه، ۶۸۰ افسرانو، ساتنمنانو او سربازانو ته روزنیز ورکشاپونه او سیمینارونه جوړ شوي او اوسمهال ۱۶۰ تنه نور په مسلکي زده کړو بوخت دي.

د مسئولینو د معلومات له مخې، د ادارې اړوند ۵۰ بستریز روغتون کې د معالجوي، وقایوي او حمایوي آمریتونو فعالول او د ۴۱۸۸۵۷ بندیانو او پرسونل درملنه؛ په تېر یوه کال کې د دې ادارې له مهمو فعالیتونو څخه دي.

# د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې د خپلو یو کلنو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ

د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې مسئولینو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغې ادارې د یوکلنو کړنو او لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره، شریک کړ.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې مسئولینو په یاد خبري کنفرانس کې وویل: تخنیکي او مسلکي زده کړې د مسلکي کاري ځواک په روزنه او پراختیا کې مهم رول لري او دا بشري پانګه له تخنیکي انکشاف، کارموندنې، بې وزلۍ کمولو او د هیواد له اقتصادي ودې سره مستقیمه اړیکه لري.

مسئولینو زیاته کړه، چې د دې ادارې د خدمتونو او کاري پروګرامونو د کیفیت او کمیت د ښه والي او د متخصص کاري ځواک د پیاوړتیا په موخه، د تخنیکي او مسلکي زده کړو پنځه کلنه ستراتیژي منظور او تطبیق شوې ده. همدارنګه، په تېر کال کې د افغانستان د غوره اختراعاتو او نوښتونو ملي نندارتون جوړ او د نوښتونو ۱۵۲ پروژې د تطبیق په موخه امارتي ادارو ته ور پېژندل شوي دي.

مسئولینو د خپلو خبرو په دوام وویل: د تخنیکي او مسلکي زده کړو د اهمیت او مقام په اړه د پوهاوي ورکولو زیات پروګرامونه په لار اچول شوي همدارنګه، ۲ محصلین او ۲ استادان هم د نوښت په سیالۍ کې د ګډون لپاره، چین ته استول شوي دي. همدا راز، د ۳۷۴۵ فارغانو لپاره د کاري فرصتونو برابرولو برخه کې پرله پسې هڅې شوي او ۷۶۹ تنه فارغان په امارتي ادارو او خصوصي سکتور کې جذب شوي دي.

تېر کال کې ۱۱۰۶۷ محصلین او زده کوونکي له تعلیمي مرکزونو څخه فارغ او ۳۲۷۲۰ تنه نور پکې شامل شوي دي. همدارنګه، ۸۱۵۰ تنو ته د حرفوي زده کړو لنډ مهاله پروګرامونه او ۱۰۰ تنو فارغانو ته د کار پنځونې ورکشاپونه دایر شوي دي.

د مسئولینو په وینا، د تخنیکي او مسلکي زده کړو په ښوونیزو مرکزونو کې د موجودو ځانګو بیاکتنه شوې او د نویو ځانګو رامنځته کولو لپاره لازم تدابیر نیول شوي، د نهو هېوادونو له تخنیکي او مسلکي زده کړو څخه نمونه اخیستل شوې او د درسي منابعو، علمي او څېړنیزو رسالو د لیکلو لارښود هم چمتو شوی دي. د دې ترڅنګ، په کابل ښار کې د افغانستان ملي معیاري انستیټیوټ رامنځته شوی او د یوه علمي او عملي پوهنتون د فعالولو هر اړخیزه طرحه هم چمتو شوې ده.

مسئولین زیاتوي، چې ۱۰ مفکورې تر تحلیل او ارزونې وروسته پر پروژو بدلې شوي او له یو شمېر ادارو سره د لندې مهاله حرفوي پروګرامونو د جوړولو په برخه کې همکاري زیاته شوې ده. دغه راز، پلانونه، پالېسیانې، تقنیني اسناد او انکشافي طرحې چمتو شوي، د تخنیکي، مسلکي او ځانګړو زده کړو استادانو ته روزنیز ورکشاپونه جوړ شوي او په مرکز او ولایتونو کې د اړوندو ځانګو د عملیاتي پلان د تطبیق او اجرااتو د څرنګوالي په اړه، ارزونه تر سره شوې ده.

د مسئولینو د معلوماتو له مخې، په تېر کال کې له ۱٦ کورنیو او بهرنیو بنسټونو سره د همکارۍ تفاهم لیکونه لاسلیک شوي او له ۲۵ کورنیو او بهرنیو بنسټونو سره د تخنیکي او مسلکي زده کړو د پراختیا او ښه والي په برخه کې اړینه همغږي شوې ده.#

# د احصايې او معلوماتو ملي اداره: تېر کال کې څه باندې ۳ میلیونه او ۲۶۵ زره الکترونیکي پېژندپاڼې وېشل شوي دي

د احصايې او معلوماتو ملي ادارې مسئولينو، د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو په مرکز کې د يوه خبري کنفرانس پر مهال، د دغې ادارې د يو کلنو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور له رسنيو سره، شریک کړ.

د دغې ادارې د مسئولينو په وينا، د وروستي یوه کال په جريان کې ۳ میلیونه او ۲۶۵ زره او ۶۰۰ الکترونیکي پېژندپاڼې وېشل شوي، چې د مخکيني کال په پرتله ۲۳ سلنه زیاتوالی ښيي.

مسئولين زياتوي، چې د اسلامي امارت له بيا واکمنېدو راهيسې ۷,۸ میلیونه الکترونیکي پېژندپاڼې وېشل شوي او د دې بهير له پیل څخه تر دې مهاله په ټوليز ډول د وېشل شويو الکترونیکي پېژندپاڼو کچه، ۱۳ میلیونه او ۸۶۸ زرو ته رسېدلې ده.

د احصايې او معلوماتو ملي ادارې مسئولين وايي، هېوادوالو ته د لا ښو خدمتونو وړاندې کولو په موخه، په مرکز او ولايتونو کې د اسان خدمت پنځه دفترونه فعال شوي، چې څه باندې ۲۰۰ زره کسانو ته يې د برېښنايي پېژندپاڼو، زېږون کارتونو د وېش او نورو برخو کې اړين خدمتونه وړاندې کړي دي. دغه راز ډېر ژر به په پکتيا، فارياب، فراه او کندوز ولايتونو کې هم د اسان خدمت څانګې پرانیستل شي.

د مسئولينو د معلوماتو له مخې، په بهر کې هېوادوالو ته د ښو او چټکو خدمتونو وړاندې کولو په موخه، په متحده عربي اماراتو کې د اسان خدمت څانګه فعاله شوې او تمه ده چې په نېږدې راتلونکي کې به په ايران، پاکستان، سعودي عربستان او ترکيې هېوادونو کې هم د اسان خدمت څانګې پرانیستل شي.

د احصايې ادارې مسئولينو زیاته کړه، د کره او دقیقو شمېرو موندلو په منظور يې د وروستي یوه کال پر مهال په بېلابېلو برخو کې ګڼې سروې ګانې کړي چې پايلې يې له اړوندو ادارو سره شریکې شوي دي.

دغه راز، د احصايې ادارې د موندنو له مخې، په تېر کال کې د هېواد ناخالصه تولید ۱۷,۲۳ میلیارده ډالر وو، چې د مخکيني کال په پرتله ۲,۷ سلنه زیاتوالي ښيي.

د احصايې او معلوماتو ملي ادارې د معلوماتو پر بنسټ، تېر کال کې په ۲ میلیونه او ۲۳ زره هکټاره ځمکه غنم کرل شوي وو، چې په حاصلاتو کې يې د مخکيني کال په پرتله ۱۴,۴ سلنه زیاتوالی راغلی دی. د دې ترڅنګ، د غلو حاصلات ۵ میلیونه او ۲۰۶ متریک ټنه او د پُنبې حاصلات ۱۲۲ زره او ۴۵۵ متریک ټنه وو، چې د مخکيني کال په پرتله په ترتیب سره، ۱۳,۲ او ۶۸,۹ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.

په بېلابېلو برخو کې د سروې ګانو په لار اچول، ۴ میلیونه ته، د الکترونیکي پېژندپاڼو د وېش شمېر رسول، په کابل، بلخ، ننګرهار، هلمند او هرات ولایتونو کې د اسان خدمت د څانګو فعالول، په ایران، پاکستان، سعودي عربستان، او ترکیې هېوادونو کې د اسان خدمت څانګو پرانیستل، د هرات په شین ډنډ، د ننګرهار په شینوارو، د غزني په مقُر، د بلخ په بلخ او د بدخشان په کیشم او راغستان ولسوالیو کې د الکترونیکي پېژندپاڼو د وېش څانګو پرانیستل؛ په روان کال کې د دغې ادارې له مهمو لومړیتوبونو څخه دي.